هفته نامه

دجهاد هنداره

مـراة الجـهـاد

لومړی کال ،۳۵ گڼه ، چهارشنبه د ۱۳۷۰ کال دلوږ ۱۸

دچمتال ولسوالۍ آزاده شوه

مسلمانو مجاهدینو دبلخ ولایت دچمتال ولسوالی دکابل رژیم دقواو له اشغال څخه آزاده کړه .
یوجهادی خبر ځای ددغه خبردخپرولوپه ترڅ کی وویل چی مجاهدینو دروانی میاشتی په لومړیو ورځو کی دچمتال ولسوالی محاصره اوپس له اته لسو ساعتو نښتو دولسوالۍ مرکز دځارندوی کندك درژیم دقواؤ له وجود څخه پاك کړی شول .
خبر ځای وویل پدغه عملیاتو کی چی دټولو جهادی تنظیمونو په گډون پیل شوی وو درژیم ولسوال، دځارندوی اودملیشاقوماندانان اودرژیم بوشمیر نور عمال مجاهدینو اسیر کړل .
خبر زیاتوی چی مجاهدینو دچمتال ولسوالی دازادولو په جریان کی درژیم له قواو څخه زیاته اندازه وسله او مهمات ولجه او دسیمی بشپړ کنترول یی په لاس کی نیولی دی .

په کابل کې درژیم دمخابراتو په وزارت کې دبم چاودنه

په ۸ مخ کی

له کراچي نه دخپریدونکې مُعتبرې اونیزې (تکبیر) چلوونکي وویل :

افغان مجاهدینو موږته دیرڅه راکړي، خوموږ هغوی ته هیڅ ورنه کړای شول

محمد صلاح الدین

دوهم مخ کی

PROPERTY OF ACKU

مجاهدینو په پغمان کی درژیم (۱۵) کسه وژلی او (۱۸) یی ټپیان کړی دی

دقوماندانانو دشورا نظامی دفتر دپغمان ولسوالی څخه دقوماندان (حاجی محمد نبی) درادیویی پیغام په حواله رپوټ ورکړی چی مجاهدینو دلوږ په (۷)مه چی دکمونستی کودتا دورځی سره برابره وه دارغندی ، په قلعه حیدرخان اودهغه ولسوالی په پوستو تعرضی بریدونه وکړل چی په نتیجه کی درژیم یو زرهپوش ، دوه عرادی نظامی موټر دسپرلیو سره ویجاړ کړی شویدی .
رپوټ وایی چی په دغو بریدونو کی درژیم عسکرو څخه (۱۵) تنه وژل شوی او (۱۳) تنه ټپیان شـــــوی دی .

بنگله دیش دسمندری توپان په ویر کې

دهغه سخت سمندری توپان له امله چی تیره اونی دبنگله دیش په ساحلی سیمه راغی څه دپاسه دوه سوه پنځوس زره کسان مړه له لسو ملیونو زیات خلك یی بی کوره او په ملیونو دالره یی دهغه هیواد اقتصاد ته تاوان رسولی دی .
درارسیدلو خبرونو له مخی دغه توپان چی له شلو کالو راهیسی بیساری بلل شوی اودهواپیژندنی مرکزونو دخبرورکولو سره سره یی خلکو ته درانده تاوانونه واړول .
ویل کیږی چی ددغه توپان له امله دسمندر څپه اوه متره جگه شوی وه .
اودحکومت دمرستی رسولو ټول امکانات یی له منځه وړیدی. دخبرونو مطابق دبنگله دیش حکومت مصیبت ځپونکو خلکو ته دمرستی دویش پوره وسایل هم په واك کی نلری له دی امله ډیر خلك دلوږی اوبیامرض لهځخه هم مړه کیږی .
په خبرونو کی راغلی چی دهری ورځی په تیریدو سره دمړو اوتلفاتو اندازه لوړیږی.دنړی له بیلو بیلو هیوادوڅخه دبنگله دیش مصیبت ځپلی هیواد ته مرسته روانه ده ؛ خو دامرستی نشی کولی دبنگله دیش په ستر ټپ باندی دمرهمو پټی کیږدی .

مجاهدینو په کابل کی د رژیم (۲۰) تنه عسکر وژلی دی

کابل، میډیا :
دکابل له ولایت نه میډیا ته رپوټ ورکړل شوی چی دټولو تنظیمونو مجاهدینو په گډه سره دلوږپه ۱۰مه او ۱۱مه نیټه دکابل شمال ختیځ ۱۵کیلو متری کی دکوه صافی د(جوزك) له سیمی نه ددرندو وسلو څخه په استفادی سره ددښمن پر پنځلسم او ځلورم نمبر زرهدارقواؤ چی پلچرخی په سیمه کی موقعیت ری عملیات ترسره کړل ، چی دهغی په نتیجه کی دملحد رژیم (۲۰) تنه عسکر او ملیشه مړه ، یو زیات شمیر یی ټپیان شول .

امید بهبودی امور در وزارت صحت عامه

قرار اطلاع واصله محمد نادر خرم وزیر صحت عامه حکومت مؤقت مجاهدین از طرف حضرت صاحب صبغت الله مجددی رئیس دولت اسلامی افغانستان بر کنار وداکتر نجیب الله مجددی معاون ان وزآرت بحیث سرپرست آن وزارت توظیف گردید تا امور را رهبری نماید .
طی معلومات واصله علت بر کناری محمد نادر خرم را عدم موفقیت درکارها ، نارسایی ورکود در فعالیت های صحی که از دوسال بدینسو درجریان بود ، نشان داده شده است که مردم از این ناحیه با مشکلات صحی و اداری مواجه بودند .
چون وزارت صحت عامه یکی از مهمترین ارگان های حکومت مؤقت بوده وبا تعداد بیشتر هموطنان ارتباط دارد ، ایجاب می کند تا بشکل بهتر وخوبتر مصدر خدمت گردد.
امید است با تبدلاتیکه جدیداً درین وزارت بمیان آمده امور صحی واداری بهتر وخوبتر وبه نفع هموطنان ما انجام گردد ، واز خداوند بزرگ برای داکتر نجیب الله مجددی موفقیت های مزیدی در امور محوله شان میخواهیم .

دشین ډنډ په هوایی ډگر کې یوه الوتکه له دووجنرالانو سره دمجاهدینو په راکټ ولگیده

هرات ، میډیا :
دهرات څخه راغلی خبرونه وایی چی مجاهدینو دلوږ په ۳ نیټه دشین ډنډ په هوایی ډگر کی نجیټ په یوی الوتکی هغه وخت دراکټونو ډزی وکړی چی نوموړی الوتکی ته دهوایی ډگرد قوماندان جنرال عبدالسلام اودارکان رئیس جنرال عبدالغفار له خوا دمجاهدینو په سنگرونو دبمباری قومانده ورکول کیده.دغه دوه تنه لوړ رتبه افسران چی له مخکی یی دتورن جنرالی رتبی تر لاسه کړی وی دالوتکی له ویجاړیدو سره په هلاکت رسیدلی دی.خبر زیاتوی چی دنجټ الوتکی اصلی پیلوټ هم دوژل شوو کسانو په جمله کی شامل دی .

دهند دانتخاباتی مبارزی په جریان کی ۱٤ تنه ووژل شول

نوی ډیلی ، رویټر اژانس :
دهند دپارلمان لپاره دانتخاباتی مبارزی په لړ کی ددی هیواد په مختلفو سیمو کی ١٤ تنه وژل شوی دی چی لس کسه په پنجاب ایالت کی او (٤) تنه نور په لویدیز بنگال کی ښودل شوی دی.
رپوټونه وایی چی دکلکتی په ښار کی دراجیو گاندي ترمشری لاندی د(کانگریس آی) گوند دوونتو غړیو دهغوی دیوی مخالفی ډلی له یوه غړی سره پر دیوال باندی دشعار دلیکلو په وخت جگړه وکړه ، چی په نتیجه کی دوه کسه ووژل شول .
په یوه بل ښار کی دکانگریس ډلی یو غړی اویو مذهبی مشر ددزو په وسیـلـه ووژل شـول .

دکابل په کاریزمیر او سروبی کی درژیم ځلور عرادی نقلیه وسایط ویجاړ او ۱۵ تنه عسکر اوملیشه یی وژل شوی دی

کابل ،دلوږ ٦ مه :
په پیښور کې دقوماندانانو دشورا نظامی دفتر دجهاد هنداري اداري ته خبر ورکړی چې مجاهدینو دلوږ په ٦مه نیټه په کاریز میر کی درژیم پرقواو باندی ددرنو وسلو برید وکړ ، چی په نتیجه کی یوه عراده زغروال ټانك ویجاړ اولس تنه عسکر ووژل شول .
همدارنگه دنظامی دفتر دیوه بل رپوټ له مخی ویل کیږی چی مجاهدینو دلوږ په ٤مه نیټه په سروبی کی درژیم په هغه قواو باندی برید وکړ چی دمجاهدینو پر مرکزونو باندی یی حمله کړی وه. رپوټ وایی مجاهدینو په دغه حمله کی درژیم یوه عراده ټانك او دوی‌عرادی نظامی موټر ویجاړکړی اویوشمیر عسکر اوصاحب منصبان یی وژلی دی .

مجاهدینوپه غزنی کې د رژیم ۱۳ تنه وژلي دي

په پیښور کی دقوماندانانو شورا نظامی دفتر رپوټ ورکړی چی مجاهدینو دلوږ په ۱۱مه نیټه دغزنی کلابند شوی ښار په کمربندی پوستو باندی یو تعرضی برید وکړ چی په نتیجه کی درژیم ٤ تنه منصبداران او ۹ تنه عسکر وژل شوی دی .
رپوټ وایی چی په دغه برید کی درژیم دپلویانو یو شمیر مورچی ویجاړی شوی دی .
دریوټ مطابق په دغه برید کی دمجاهدینو څخه یو تن ټپی شوی دی.

په شکردره کې درژیم ٤ تنه پلویان ځپل شویدي

دقوماندانانو شورا نظامی دفتر رپوټ ورکړی چی مجاهدینو دلوږ په ٦ نیټه دکابل دشمال په لس کیلو متری کی د(شکردری) په ولسوالی او شاوخوا پوستو ددرندو وسلو په یو برید کی (۲) تنه عسکر او (۲) منصبداران وژلی دی .
رپوټ وایی چی په دغه برید کی د (شکردری) دولسوالی د(باغ عارف) دپوستی دملیشه و قومانـدان هم وژل شـوی دی .

دعامی روغتیاطبي کورس لسمه دوره بشپړه شوه

۷ مخ

سرمقاله

دجهاد په سیاسي ډگر کې تحرك اودوضعې بدلون- دحالاتوغوښتنه

په دی حساس شیبو کی چی زموږ اسلامی انقلاب له ستونزورو کړکیچونو اوپړاوونو راتیرشوی اوډیری په واټ کی ولاړ دی ، دیوځی اوسیاسی ډگرونو هماهنگی ته ترهر څه ډیره زیاته اړتیا لیدل کیږی .
ترکومه چی خبره په نظامی ډگر پوری اړونده ده ، دقوماندانانو دسرتاسری شورا دتأسیس اودهغی دپرله پسی غونډو په نتیجه کی چی هدف یی دجهاد په نظامی ډگر کی دیوی واحدی ستراتیژی ټاکل وو ، دجهاد لیکی منظمی اوپردښمن باندی دگډو اویومخیزو عملیاتو پلانونه طرحه اویو په بل پسی دلاروچارو په برابریدو سره عملی

۸ مخ

پر کابل دحملي نه مخکې باید یوه متحده اداره جوړه شي ، دامنیت اونظم لارې چارې وسنجول شي ترڅو دهرډول بې نظمۍ اوگډوډۍ مخه ونیول شي

«الحاج حقاني»

دجهاد هنداره

مؤسس : الحاج مولانا جلال الدین حقاني

دتأسیس کال : ۱۳٦۹ هـ ش

په خوست کی دنیول شوو پوځیانو په اړه دکابل رژیم اتهامات

[redacted]

دهغه وخت راهیسی چی خوست دمجاهدینو په لاس فتحه او دکابل مزدور رژیم یی له شرموونکی ماتی سره مخامخ کړیدی دکریملین واکدارانو اودهغوی تالی څټو هڅه کړیده چی دمجاهدینو په فتحی اوبریالیتوبونو پرده واچوی او خپل شکست دنړیوالو له نظره پټ وساتی .

پدی توګه یی له یوی خوا دافغانستان په مظلوم ولس دخپلو الوتکو بمباری اودسکډ توغندیو اورول توند کړل چی دافغانستان په ګوټ ګوټ کی یی ډیر زیات وګړی په شهادت ورسول .دکونړ په ولایت کی یی چی ددوو کلونو راپدی خوا دمجاهدینو په لاس کی دی له غمه ډکه او دردوونکی پیښه رامنځته کړه اوپه سلګونو تنه مسلمان افغانان یی په یوه ورځ شهیدان کړل ، دخوست په ښار او شاوخوا سیموکی هره ورځ دالوتکوبمباری اودسکډ توغندیو توغول دوام لری ، داسی ازاده سیمه نه شته چی دکابل رژیم له وحشیانه بمباریو څخه خوندی پاتی وی لنډه داچی په نظامی برخه کی یی له هیڅ ډول زور زیاتی څخه دریغ ندی کړی .

له بلی خوا یی دمجاهدینو پر ضد زهرجن اوله حقیقت نه لیری پروپاګندی په لاره واچولی او ویل یی چی ګواکی دخوست په جګړه کی دپاکستان پوځ له مجاهدینو سره برخه درلوده اویا داچی مجاهدین له نیول شوو پوځیانوسره بده وضعه کوی اودهغوی په وژلو یی لاس پوری کړی دی .

لکه څنګه چی څو ورځی مخکی نړیوالو راډیو ګانو ادعا وکړه چی دکابل رژیم یوکارمند مولوی ګلاجان دمجاهدینو له خوا اعدام شوی دی اوکابل رژیم راډیو ته یی دپروپاګندی ښه زمینه برابره کړی وه خو کله چی پخپله مولوی ګلاجان دخبریالانو په مخکی دمجاهدینو دنیك او اخلاقی سلوك ستاینه وکړه او دنړیوالو راډیو ګانو ادعا ګانی یی دروغ وبللی نو یوځل بیا یی ثابته کړه چی په رښتیا مجاهدین له نیول شوو اسیرانوسره ښه چلند کوی.که څه هم نوموړی اسیران دمجاهدینو . دشهادتونو او سربتندنو په نتیجه کی نیول شویدی خو مجاهدین یی داسلامی ترحم له مخی په ډیر عزت سره پالنه کوی لکه چی معلومه ده دسره صلیب نړیوالی موسسی استازیو دکابل رژیم له پوځیانو سره چی اوس دمجاهدینو په لاس کی دی له نږدی وکتل.

نوموړیو استازیو له یو لړ پلټنو وروسته په ډاګه کړه چی مجاهدینو دخوست په جګړه کی نه یواځی داچی دنیول شوو پوځیانو سره په چلند کی دبین المللی معیارونو څخه سرغړونه نه ده کړی ، بلکی تر هغه یی لازیات نیك او اخلاقی چلند کړیدی .

همداډول دخوست فاتح الحاج مولوی جلال الدین حقانی په یوه مطبوعاتی مرکه کی څرګنده کړه « کوم جنرالان او لوړ رتبه پوځیان چی مجاهدینو نیولی دی هغوی ورځ په ورځ دمجاهدینو داخلاقی اواسلامی چلندله مخی واقعیتونه بیا مومی ، درژیم له پالیسیو

په اوم مخ کي

افغان مجاهدینو موږ ته ډیرڅه راکړي خوموږ هغوی ته هیڅ ورنه کړای شول

ملاقات اومرکه : ننګیال - سید عبدالله

محمد صلاح الدین دپاکستان مایه ناز لیکوال ،محقق او صحافی دی چی یواځی دپاکستان په سرحدی پولوکی نه؛بلکی داسلامی امت یوسترګور لیکوال او مبصرېی ګڼلی شوچی دڅه پیژندګلوی محتاج ندی دسیمه ایزو او نړیوالو بدلونونو او جریاناتو په اړه ددوی تبصری تحلیلونه اوتجزیی دپیښو اساسی اومرکزی عوامل ښه نقداوروښانه څیړی .

دوی په پاکستان کی له بیلابیلو معتبرو خپرونو سره منسلك پاتی شوی څو کاله یی دجسارت ورځپاڼه چلولی او داڅو کاله کیږی چی دتکبیر اونیزه چلوی ، تکبیر اونیزه دافغان جهاد داهدافو اولاسته راوړنو دخپراوی په لارکی ډیردروند اوستر کار کړیدی چی پدی اړه ددوی مطبوعاتی جهاد له هیچا څخه پټ ندی ،دافغانستان دجهاد په اړه ددوی یو لیکل شوی اثر په ۴۰۰ مخونو کی چاپ کیدونکی دی ، دی دثور په ۱۲ نیټه دالانصارماډل سکول (ښوونځی) دشهادتنامو دویش په غونډه

خومره چی زمارابطه ،مینه اوعلاقه له تاسی مجاهدینو سره شته له بل هیچاسره به دومره نه وی. زه ستاسی په لیدو ډیر خوشاله شوم داځکه چی ستاسی هدف زماهدف دی ستاسی لارزموږ لاره او ستاسی ارمان زموږ ارمان دی .

مسلمان یو جسم اویو وجود دی ، په اسلام کی له علم څخه دعمل برخه درنه ده اوتاسی باعمله خلك یاست ، تاسی عملی جهاد کوی دخدای په لارکی جهاد کوی اودحق په لارکی جهاد کوی ځکه خو په اوسنی وخت کی له تاسی قدرمن خلك نورنشته .

صلاح الدین صاحب زیاته کړه :

داریښتیا ده چی موږ تاسی ته درکړی لږدي خودرڅخه اخیستی مو ډیردي .

زه کله چی دلومړی ځل له پاره افغانستان ته ولاړم دحقانی صاحب له جهادی مرکزونو څخه می دلیدنی کتنی ویاړ په برخه شو ، ماپه کتابونو کی دامام شامل او صاف اوځانګړنی لوستی وی، په نظری ښه می معلومات لرل خوداټول صفات او ښیګړی می

ستاسی مجاهدینو یو ډیر لوی احسان دی چی دهغی قیمت څوك نشی اداکولی .

صلاح الدین صاحب زیاته کړه :

زه له حقانی صاحب څخه ډیر متأثر شوی یم .

زمادافغانستان لومړی دوره دحقانی صاحب له جهادی مرکزونو څخه وه اوهمدغه دوره دافغانستان دجهاد په هکله دیوه داسی کتاب

حلقی ګیلی اوشکایت ولری ، دده ړیوتهونه اوتبصری یوطرفه وګڼی داتر ډیره زه هم منم ، داسمه ده چی هغه به له یوه مشر اوګوند سره ډیر تعلقات لری اوهمداتعلقات ددی سبب ګرځیدلی چی دهغه پرخوا څه تمایل پیدا کړی خوخدای حاضر دی چی موږ ته ټول افغانان ،ټول مجاهدین اوټول جهادی تنظیمونه یوډول ښکاری

> افغان مجاهدولس دټولو مسلمانانو په منځ کي نوي یقین اوتصور پیدا کړ داپه ټول اسلامي امت ستاسي مجاهدینو ډیرلوي احسان دي چي دهغي قیمت څوك نه شي ادا کولي

دلیکلو سبب شوه چی په دی نژدی وخت کی به په ۴۰۰ مخونوکی چاپ شی .

دوی وویل :

مادافغانستان ډیر مشران لیدلی خوهغوی می په دفترونو کی لیدلی په پیښور ،کراچی اولاهور کی می په بنګلو ،میلمستیاواوتقریبونو کی لیدلی،خوحقانی صاحب می په افغانستان کی دننه لیدلی ، دجګړی په ویاړمنو سنګرونوکی می لیدلی دجهاد په تودو مورچلونو

موږیی یو شان ګڼو ، پدی هکله هیڅ امتیاز لازم نه ګڼو اوستاسی په منځ کی امتیاز کول ناروابولو.

له همدی ځایه زه تاسی ته ډاډ ورکوم چی تکبیر مجله چی ستاسی خپله مجله ده تـوربـه لـه دی ډول تمایلاتوڅخه خوندی پاتی وی.

موږله محترم محمد صلاح الدین صاحب څخه پوښتنه وکړه چی دخوست فتحی په سیمه ایزه اونړیواله سطحه دعالمی رای عامه په رابطه څه ډول اغیزی په ځای پری ایښی .

دوی وویل : دافغانستان دجهاد په هکله موږ ته حوصله ناك خبرونه رارسیدل ، خو دروسی لښکرو له وتلو وروسته دجلال اباد جګړی یوه مایوسی اونهیلی خپره کړه دمجاهدینو ددوو تنظیمونو خپل منځی اختلافاتو هم دامایوسی تقویه کړی وه دمایوسی پدی دومره موده کی دجهاد ټول خواخوږی یوښه اونیك خبرته منتظر وو خودغه انتظار اودجهاد دخبرونو دتعطل سلسله دخوست فتحی ختمه کړه .

په خوست کی چی دمجاهدینو فتحی اوقوت کوم اغیز اوتاثر وړاندی کړی هغی دکابل دفتحی په رابطه دمایوسیو اوددښمنانو دناوړه تبلیغاتو سلسله له یوی مخی ختمه کړه ، لدی

په اوم مخ کي

> ما دافغانستان ډیر مشران لیدلي خو هغوي مي په دفترونو کي لیدلي،په پیښور ، کراچي اولاهور کي مي په بنګلو ، میلمستیااوتقریبونو کي لیدلي خوحقاني صاحب مي په افغانستان کي دننه لیدلي؛داور اوبارودو دلمبو په سیوري کي مي لیدلي دبمونو په باران اودګولیو په ډنډوکارکي مي لیدلي ماهلته دده ثبات ، درایت ، تدبیر ، ایماني قوت ، ټینګار ، صبراو استقامت په خپلو سترګو لیدلي ځکه خو زه په ډاګه وایم چي حقاني صاحب دغیر معمولي صفاتو خاوند دي

کی دخصوصی میلمه په توګه دعوت شوی ؤ موږ له همدی تنګ فرصت څخه په استفادی په پیښور پوهنتون کی دډاکتر احسان کره له دوی سره ملاقات اومرکه وکړه چی دهغه لنډیز درنو لوستونکوته وړاندی کیږی .

محترم محمدصلاح الدین له ستړی مشی وروسته وویل : که څه هم زه په کراچی کی اوسیږم خو په یوه روحانی تړون او قوت له تاسی مجاهدینو سره یم زما فکر اوذکر ، زماتصوراوتخیل دافغانستان له جهاد اوقهرمان ولس سره تړلی دی

دحقانی صاحب په نورانی څیره کی دسر په سترګو ولیدل ،اودبیرته راګرځیدوسره می په مجله کی ولیکل چی افغانانو موږته ډیرڅه راکړی ، هغوی موږته ژوند راکړی دایمان په حلاوت یی پوه کړی یو، زموږ له زړونو څخه یی ویره ایستلی دحق دمینی اوقربانی حرارت اوتصوریی رابخښلی ، اوزموږ ژوند اوازادی یی تضمین کړیده.

هو! افغان مجاهدولس دټولو مسلمانانو په منځ کی نوی یقین او تصور پیداکړ ، داپه ټول اسلامی امت

کی می لیدلی داوراوبارودو دلمبو په سیوری کی می لیدلی دبمونو په باران اودګولیو په ډنډوکارکی می لیدلی.

ماهلته دده ثبات ، درایت ، تدبیر ، ایمانی قوت ، ټینګار، صبر اواستقامت په خپلو سترګو لیدلی ځکه خو زه په ډاګه وایم چی حقانی صاحب دغیر معمولی صفاتو خاوند دی .

صلاح الدین صاحب وویل :

یوه خبره زه تاسی ته روښانه کول غواړم اوهغه داچی کیدی شی له رفیق افغان څخه ځینی جهادی

دژوند اووخت ارزښت پیژندنه

مولانا عبدالمجید

۱- ژوند او۲- وخت

ژوند اووخت دواړه یوله بل سره نښتی اونه بیلیدونکی اصلونه دي چې مادی دنیا کی یی ارزښت نه شی ټاکل کیدای هره جامعه که غواړی چې دژوند په تګ لاره کی دی کوټلی اوجوته ګامونه پورته کړی اوځان دانسانیت دغوښتنی سره سم ددنیا یو لوړ پوړته ورسوی نودی خلکو ته پکار دي چې دادوه اساسی اوبنیادی شیان په هغه شان سره چې یی تقاضا ده وپیژنی اوهم یی دعملی کولو په لار کی ټول خنډونه لیری کړی اوداسی شرایط کښیږدی چې ټول خلك دادوه شیان په هراړخیزه توګه عملی کړای شی نوهله به داټولنه دترقی په لور روانیږی دایوطبیعی اوفطری حقیقت دی چې هرساکښ دخپل ژوندون دبقالپاره تروسی وسی پوری هڅه کوی او دیته حاضر وی چې هر څه دی له منځه ولاړشی خودده ژوند دی نه ختمیږی همدارنګه هرژوند ی جسم دخپل نسل دپایښت په لاره کی ټولی ممکنی وسیلی پکار اچوی چې دنسل موجودیت یی له منځه لاړ نشی په همدی توګه څرنګه چې انسان په دنیا کی په ځانګړی توګه دژوندټولی ستونزی نشی سمبالولی نو اجتماع ته ضرورت اواړه پیداکیږی اوداجتماع هرغړی باید دځان دبقا لپاره دنورو دپایښت فکرله ځان سره ولری چې همدغه دیوی اسلامی جامعی اسلوب دی اوسلیم فطرت هم ورسره هم اهنګی ښکاره کوی نولازمه ده چې دژوند دضیاع څخه په ټول توان سره مخ نیوی وشی دانسان ژوند هغه بی قیمته جوهر دی چې که ټوله کره دځمکی دهغو ټولو شتمنیو سره دیو انسان په واکمنی کښی راشی اوداټوله شتمنی په یوځل مصرف کړی په هغه شان شرایطو سره چې څنګه ښایی اووده غوښتنه داوی چې ددغه له منځه تللی انسان ژوند دی بیرته اعاده شی نوبیا به هم داخبره دامکان څخه لیری وی ځکه چې که یوځل دانسان دژوند مرغلره دلاسه ووته نوبیا دټمام جهان مخلوق یی دراګرځولو توان نلری .

ددنیا دمادی موجوداتو هرشی یو قیمت لری که هغه لوړ قیمت وی یا ټیټ خوانسانانو به ورته یو قیمت ټاکلی وی اودژوند ارزښت ټاکل دانسان دوس څخه بهر دی صرف دانسان دژوند لپاره چې بدله اوانډول دی هغه دژوند دوران کی دخدای (ج) رضا مندی ده اوپه اخرت کی یی جنتونه دی په نورو دنیاوی شیانو باندی ژوند بیه کول اوخرڅول دسالم عقل دمعقولاتو څخه شمیرلی نشی .

-هرقوم چې ددغه دوو اصلونو قدرندی پیژندلی نو دهغوی ټولنه همیش دغمونو هلاکتونو ، بی عدالتیو اودربدر یوسره لاس په ګریوان پاتی شوی وی دوی په دنیا کی یوازی ددنیا دنعمتونو څخه بی برخی شوی ندی بلکه اخرت یی هم دنعمت او سهولت په عوض دمصیبتونو مصدر جوړشوی.

دیو انسان ژوند دخدای (ج) په دربارکی دومره ارزښتناکه اوقیمتی دی چې نبی کریم صلی الله وسلم فرمایی : ترجمه : یقیناً ددنیاورانول دالله (ج) په نزد ډیراسان دي دیو انسان مسلمان دوژ لو په نسبت.

ددی حدیث دمبارکو الفاظو څخه په ښکاره ډول څرګندیږی چې خدای تعالی ته دیو مسلمان انسان ژوند څومره خوښ دی اوالله تعالی څومره پخپل مخلوق باندی مهربان دی همدارنګه باری تعالی پخپل اذلی کتاب قران کریم کی فرمایی : یقیناً موږ انسان مکرم اوعزت مند پیداکړی .

بل ځای فرمایی : هرچاچی یو انسان په ځمکه کی وواژه بدون له قصاص اویافساد څخه داسی شو لکه چې ده ټول خلك ووژل اوهرچاچی یو انسان ژوندی کړلکه چې ټول انسانان یی ژوندی کړل اوس که انسان ښه په دقت سره فکروکړی اوځان وپوهوی ورته به څرګنده شی چې په دنیا کی اوس دژوندبیه څه شی کیدای شی ، دانسان ژوند اصل دی اودانور شیان چې دځمکی دکری په مخ باندی لیدل کیږی داټول الله تعالی دانسان دفایدی لپاره پیداکړی اوانسان یی دخپل عبادت لپاره خلق کړی کله چې یو انسان دخپل ژوند ارزښت وپیژنی نو دانسان دانسانی کرامت داغوښتنه حتمی ور سره سر راپورته کوی چې دنورو انسانانو ژوند ته نه یوازې داچې پاملرنه پکارده بلکه باید لوبی وربانــدی ونــشــی دچادشخصی ګتو دسرته رسولو طعمه دی نشی احترام دی وساتل شی .

چې داټول موضوعات فقط داسلام مبین دین چې ددنیا اواخرت دین دی تحلیل کولی شی ، اوددنیا نور هغه ادیان چې انسانانو جوړکړی هغه ټول ترینه عاجز دي

ژوند او وخت یو داسی بی مهارنیلی دی چې که هرڅومره کوښښونه وشی داتم کیده نلری دژوند تیریدل دټیپ دفیتی حیثیت لری چې هغه روان وی تیریږی او شیبه په شیبه باندی یو نوی پړاو ترسره کوی که سړی څه کوی که یی نکوی څه وایی که یی نه وایی خو دافیته به خپل ټاکلی مسیر په ټاکلی موده کی طی کوی برابره خبره ده چې څه شی وربانڈی ثبتیږی که نه خوچې کله دټیپ فیته دوباره شی نو بیا خلکو ته معلومه شی چې دی ځای کی خالی تیره شوی اودغه ځای کی یی یو څه ثبت کړی که ښه وی یا بد .

دارنګه دانسان ژوند تیریږی اوتګ یی له توقف سره مخالف دی که انسان ویده وی یاهسی ناست یاولاړ وی چې هیڅ شی وربانڈی مبنی نه وی نو دده د ژوند ددغه ځای مثال به دخالی فیتی وی اوکوم ځای یی چې یو کار اجرا کړی خواه هغه ښه وی یابد اما دده دژوند فیتی به هماغه شکل کم وکیف سره ثبت کړی وی په کوم څرنګوالی چې دده څخه صادر شوی وی ، نو دژوند خالی ځای به یی دحیات دفیتی په مخ خالی راځی اوډك به یی ډك راځی که هر څه وی په همغه خپل ساز اوصورت به تیریږی خودا یو حقیقت دی چې دانسان دژوند فیته دنیا کی په کلی توګه بیرته نه راګرځی که څه هم ځینو انسانانو به دبعضونور و یوځه ناځه کړه وړه دتاریخ په پاڼو ثبت کړی وی .چې هغه به دخلکو په وراندی موجود وی ترڅو عام خلك دهغه کوونکی په باره کی یو څه فیصله صادره کړی خوداکار ډیر زیات ناقص دی په اساسی اوریښتنی ډول به دهر انسان دژوند فیته دمرګ څخه وروسته دقیامت په ورځ رادوباره اوڅرګندیږی چې بیا به هرانسان لره دخپلو خپلو اعمالو ، افعالو او اقوالو ریښتنی څرګندونه وشی اوهم به ورته الله (ج) وفرمایی چې نن ته پخپله دخپل ځان دحساب لپاره کافی یی یعنی نن پخپله په خپل ځان باندی محاسب شه.

اما هغه وخت بیا دانسان پښیمانتیا اوندامت هیڅ فایده نه لری ...

نوهرشخص ته دالازمه ده چې خپل داقیمتی ژوند په عبثو اوناوړه کارونو باندی تیرنکړی ، اودخپل ځان او نورو لپاره دی ترینه مناسب کاراوخلی (ځکه شیبه په شیبه دژوند اووخت فرصت مخ په کمیدو دی اودمرګ تم ځای ته نږدی کیږی) چې هم په دنیا کی هوسا اوارام و اوسیږی او هم دژوند څخه وروسته دهغه ابدی خوشحالیو خاوند شی چې دکومو په دنیا کی تصور هم نشی کیدای اوحواس دانسان یی له حس کولو څخه عاجز دی .

لنډه داچې په اسلامی انسانی نیکه طریقه ژوند تیرول هم دنیا کی داسانیو اونعمتونو سبب کیږی اوهم په اخرت کی دابدی خوشحالیو زیری ورکوی اواسلامیت اوانسانیت څخه مخالف ژوند تیرول دنیا کښی په انسان دالویه ځمکه لکه تنور تنګولی شی اوهم په اخره کی دبی اندازی مصیبتونو اودردونو علت کیږی .

دروسی پوځ څخه دراتښتیدلو پوځیانو په جمله کی دهغو دوو ځوانو پوځیانو یادول هم ضروری دی چې دروسی پوځ څخه وتښتیدل اومجاهدینو ته یی پناه راوړه داسلام دین یی ومانه ، سینه یی په اسلامی روزنو منوره شوه، او بیا دیوی نړیوالی معاهدی تر سیوری لاندی نړیوالی کمیټی ته وسپارل شول ، په دوی کی یود «اوکراین » د«کیف»ښارشل کلن«نیکولای الیګزیندروکترموچوف» دی چې داسلام غیږی ته ترپناه راوړلو وروسته یی ځان ته ددین محمد نوم غوره کړی «نیکولای» دشل کسیز پلی پوځ دیوی ډلی مشر ؤ هغه ته دلاسی بم دغورځولو روزنه ورکړشوی وه دهغه پلار

موږ په افغانستان کې څه ولیدل ؟

په افغانستان کې دنیول شوو روسي عسکرو خاطرې

په تیر پسې : دعوض الدین «صدیقي» ژباړه

«ویلی الیګزیندر» بزګر دی اوپر دولتی ځمکو باندی کروندګری کوی ، دهغه یو مشر ورور دتریکتر ډریور دی او ورکوتی ورور یې دپلارسره دولتی فارم کی کار کوی د۱۹۸۲ کال دمارچ په میاشت کی پوځی صاحب منصبانو په ښوونځی کی په زور دهغه نوم دپوځ لپاره دروزونکو په ډله کی ولیکه او هغه یی د«عشق اباد» پوځی اکاډیمی ته ولیږه ، داووه میاشتی کورس وروسته هغه ترټولو ښې نمری لاس ته راوړلی اوهغه ته یې دیوه ټولی مشری ورسپارله ، داکاډیمی څخه چې خلاص شو هغه یی افغانستان ته ولیږه دکابل څخه هغه راساً غزنی ته واستول شو دلته هغه ۸ میاشتی دخپل ضمیر پر خلاف جګړی کی برخه

> زماد نیولو لپاره روسانو ټانکونه راولیږل خوهغوي په دي کار کي بریالي نشول او دمجاهدینو حملي هغوي تیښتي ته مجبور کړل

واخیسته خو هغه قلباً ددی جنګ پر ضد ؤ ، هغه وایی یوه ورځ هم داسی نه ده تیره شوی چې مادی له خپل مرکز څخه دتیښتی فکر نه وی کړی او آخر یوه ورځ داسی راغله چې ماته ددی موقع په لاس راغله په دی ورځ اتفاقاً ټول پهره داران دشپی ترتیرولو وروسته سهار ویده شوی ؤ ، زه وروشانی پورته شوم ، اوله مرکز څخه ووتم او دنږدی کلی خواته مې منډې کړی په کلی کی زه مجاهدینو ونیولم او خپل قوماندان عبدالکریم ته یې وروستم هغه ماسره ډیر ښه برخورد وکړ ، شل ورځی مې دهغه سره تیری کړی تردی وروسته هغه زه آزادو سیمو ته انتقال کړم ،

زمادنیولو لپاره روسانو دټانکونو یوه ډله راولیږله خو هغوی په دی کار کی بریالی نشول دمجاهدینو حملی هغوی تیښتی ته مجبور کړل اودحملی ترناکامیدو وروسته روسی الوتکو پر ټول کلی درنه بمباری وکړه خو دمجاهدینو ددرندو اوزیکایك دډزوله امله هغوی ونشو کړای چې بمونه پر هدف وغورځوی .

«نیکولایی »چې اوس «دین محمد» دی دمجاهدینو تر کنترول لاندی سیموکی قرانکریم اونور دینی کتابونه لولی هغه فارسی او پښتو ژبی هم زده کړی ، هغه کورته دتګ تلوسه ځوروی ، خپل ورور یې ډیر یادیږی خود «کی ،جی،بی» موجودیت دومره خطرناك او دوحشتونو ډك دی چې روسیی ته دتګ ټولی لاری یی پر هغه بندی کړی .

دترکمنستان دسیمی اوسیدونکی « یوری اوف» چې اوس یی پرځان د عبدالله نوم ایښی کله چې دروسیی څخه راته دهغه زړه دامریکا اونورو بهرنیو قوتونو پر ضد دکرکی څخه ډك ؤ چې افغانستان پر خلکو یی دظلم اوستم څادر غوړولی ، هغه ته دافغانستان ترتګ دمخه ویل شوی ؤ چې امریکا اونور بهرنی قوتونه ددی په خاطر افغانستان ته راغلی چې غواړی پرروسیی حمله

(٦)مخ کی

که شمه هم شوم په انجمن کې
ژوند به مې تير شي په ځنکدن کې
پټ اوپرده مو خوندي ګړې ربه
دتل لپاره په خپل وطن کې

لنډۍ

ستا بخملي برستن په سرده
په ما وريږي دناپالـم بارانونه
مجاهد تور غره نه راکوز شول
دشوروي ټانکو ته يې کيښودل بمونه
جهاد ته ځمه رخصـت راکړه
زمـا په حال به تقدير څه ليکلي وينه
جهاد ته درومـې پروامـکړه
زه به دنيمې شپې دعـا درته کومه
شهيده ستا مزار گلزار دی
زه به شبنم داوښکو تل پرې ورومه
شهيده ته مې شفاعت کړه
زه گناهگاريم چې تراوسه ژوند کومه

کشمير اودکړيکو انگازې

له کشميري جونگړو څخه يوه رښتيانې کيسه

سيدشو

له اردو ډايجست څخه

دنيول شوی کشمير دکپواړې په ښارکی يو ښکلی اوروښانه سهار راختلی ؤ پرخه لويدلی وه ، اوښايسته يخه يخه هوا چليده . جګړن ، رګهوديال دقومانداناتو د۱۸ لمبرد غونډ څخه بهر ودريد اوپه ټوله سيمه يې له غروره ډك نظرواچاوه دروازه يې بيرته کړه اودننه ننوت :

په خير راغلی صيب : غړيی واوريد

په خير اوسی (رګهو) خو تشکرصيب : ويښتئ زمالپاره څه خدمت !

هوکی : رګهو : ستالپاره نن دسيمی په ټولو کوڅو اوکورونو کی عمليات کول دی ، ځکه دجاسوسانو له خولی دسيمی خلك له ټك څخه داوښتونکو خلکو سره مرستی کوی .

بخښنه غواړم صيب : څه ډول عمليات ؟

کور په کور تالاشی :

زموږ سره دچادمزاحمت توقع صيب ؟

اوته بيا پو ي نه شوی : دچاکار څه دی چی دپوځ سره ښکرجنګوي بس فقط دډوډی عمليات دی ، کوښښ وکړه چی دزياتو نه زيات ونيول شی ځکه مقامات فکرکوی گوندی زموږ متی کمزوری دی:

صيب تاسی هيڅ فکرمه کوی : زه به دلس پنځلس ډزو سره سل ، دوه سوه ونيسم اوخپله کلانکاری به ښکاره کړم .

اوښه په احتياط: خير دبشری حقوقو ډنلهوری خو اوس هسی هم ډيری ورروسته پاتی دی ؟

بلی صيب : دچا په مغزو کی به هم نه تيريږی چی تر قيامته پوری موږ په دی سيمه خپل کنټرول ساتل غواړو !

اوکه دچاپه مغزو کی تير هم شی نو څه ؟

خو بيا هم احتياط ښه دی څه پوځيان درسره بوځه.

په سترګو صيب : اوله دی خبروڅخه وروسته جګړن رګهو ديال سلامی واخيسته اوبهر راووت :

غلام رسول دخپل کور په حجره کی ناست او دداستان يو کتاب لولی نن اعتصاب دی، دی هم دخپل ساعت سازۍ دوکان ته نه دی تللی کتاب ړدی اواوده کيږی چی ميرمن (سکينه) به مې ترمابښامه پوری دپلار دکوره راشی په کور کی دننه يې سپين ږيری پلار غلام نبی زړه مور رقيه او پيغله خور حامده دخپل څلور کلن وراره شهريار سره ناست دی غلام رسول چای جوشی راپورته کوی : داچای خوږخ شـويدی... ناڅاپه دډزواوازونه راځی په لاډسپيکرونو باندی چيغی وهل کيږی خلك خبرول کيږی چی دکورونو څخه بهر مه راوځئ په دی وخت کی په کوڅه کی دډيرو بوټونو ترپـهار اوريدل کيږی اوورپسی دغلام رسول دکور دروازه ډبول کيږی غلام رسول ويره نيسی اودروازه خلاصوی يوه سخته ډيکه خوری اوپه شنودريشيو کی پوځيان کورته رانوځی ډير قهرجن دی مشر يې هم د ۱۸ لمبرد غونډ قوماندان دی اودهيواد هرکورته دپټو شويو خلکو دلټون لپاره ننوزی .

غټ پوځی خپلو پوځيانو ته په اشاره کی چغه کړه خواره شئ سملستی يې دکوټو پلو منډی کړی .

غلام رسول ورته وايی صيب څه خبره ده ؟ چټيات بند کړه چوپ اوسه . صيب زما خبره خو واوری موږ خو دامنيت غوښتونکی اوامن خوښوونکی يو ديوه خورد ضابط (هرديال) سوك يې په خيټه لګيږی ، دوهلو شروع پری کيږی اودپوځيانو لغتی پخپله خوله اخلی نوره خبره يې په ماتو غاښونو اودخولی نه په روانو وينو کی ورکيږی :

داړه مارانو اوس سپين بږيری غلام نبی ونيواوراپی وست وايه بوډا ورانکاری دی چيری پټ کړی دی هغه دخپل ځوی پلوګوری چی ددرد دلاسه ډير ناقلاره دی اوغوړيدلی پخوانی قالينی يې په وينو خړوب شويدی بوډا غلی کيږی يو ناڅاپه : ستاسی ...

زبردسته کنځاوی دخولی نه وباسی چی په اوريدو باندی يې په هندی پوځيانو ځمکه اواسمان يو کيږی ډيری تهوپکی پورته کيږی اوکو ندغونه يی ددغه ضعيف کشميری په خوله لګيږی په طوفانی کړيکو کی دغلام نبی کړيکی ور کيږی په ځمکه لويږی سريی دخپل زوی په پښو ورلويږی هغه راپاڅيږی نه ځمکه شکيږی اونه کوم اسمان رالويږی ځکه چی په يوه ويرونکی خاموشی کی نن يو بل کشميری دخپلو غدارانو مشرانو دعملونو قرض ادا کوی : چوپه چوپتيا! وخت تيريږی ، نوی چغی ددغی چوپتيا لمن ورټولوی دحامدی اورقيی په چيغو کی دشهريار چيغی دی چی انګازی کوی :

ای زما نيا ! زما خواته راشه

حامده په ځمکه باندی پرتو ددووجسدونو ته ګوری غلی

(۵) مخ کی

دوحدت ترانې

امان الله نصرت

لاړشه لړ سنګرته سرولښونه ځان خبر کړه
چيغی دی سلګی دی فريادونه ځان خبر کړه
جوړ دی بارانونه دراکيټو سم او غر باندی
ځه دجنګ ميدان ته مورچلونه ځان خبر کړه
ژاړی له ډيره غمه خواريتيم شهيد بابا غواړی
ويی کړه پوښتنه له سلګونه ځان خبرکړه
ناستی يکې سترګی کونډی وراری بی اسری چی دی
لړخويی دزړونو پرهرونه ځان خبر کړه
اوښکی دماتم چی يی په مخ باندی روانی دی
لړ خويی له ځيرو ګريوانونه ځان خبر کړه
ته چی دعيش عمرتيروی ښکلو قصرونو کی
وګرځه کيمپو کی له خيمو نه ځان خبر کړه
ناست چی بی پروا يی په چوکی داقتدار باندی
ای خيالی سلطانه زخمی زړونه ځان خبر کړه
ولی په پيسو اوپه قدرت باندی مغرور يی ته
نه يی شته غمخور ګوډ و ، ړندو نه ځان خبر کړه
تاته شپه او ورځ چی دنصرت قلم ګيلی ليکی
لږڅه دوحدت له ترانو نه ځان خبر کړه

بيا راغلې پسرليه

سيد خان « وفادار»

بيا راغلې پسرليه رنګ مو کلي اوکورونه دي
وګـوره وطـن کې نه ميلې نه چمـنونه شته
لاړشه پسرليه بل وطن ته که سـيلـونه کړې
شپه ورځ په موږ يوه ده شهيدان په وينو سره ګوره
ډېر ځله ته راغلې ښه دولېد تريخ ژوندون زموږ
دلته ظالمان اومظلومان لاس په ګريـوان دي نن
کونډې يتيـمان په ژړاشـوي فـريادونه کړي
شني ګيـاشـوې و چې ددښمـن په بمباريو کې
منډې يتيمان کړي ادې اپلار مې چـيرې تللې دی
جوړدي سنګرونه سره وحـشي سره په جنګ يو موږ
څوك دشهـادت په وينو سره فاني دنيا نه ځي
سربه نن فـداکـړو دوطـن دآزادۍ پـه لار
ډېر دغم داستان دی زړه پرې درد کـړي قلم بند کړه نور

چاته ګـيله وکـړم چـاته وژاړم غـمونه دي
جوړدي په موږ وير او په هواګرځي جازونه دي
دلته په موږ بانـدې دوحشي کافر ظلمونه دي
دلته دشـهـيد په مـزارونو فـريادونه دي
دلته دجـګـړې پـه ډګرو کې تور دودونه دي
هرې خـواتـه ګـوره دسروويښوسيلابونه دي
خدايږو څـه راوشـول داپه موږ څه عذابونه دي
ګوره پسرليه ستـاموسـم کـې خزانونه دي
مورېې له ځـوابـه پـه ژړاشـې داحالـونه دي
ښکلې په غـازيانو دجهـاد سره ډګرونه دي
چاته په خپـل کور کې ديتيم سوي آهونه دي
مـوږ ته په زانـګو کې د پلرو داوصيتونه دي
جوړچې په شعرو کې دسيـدخان داپيانونه دي

دشپې په تياره غيږه کې

لنډه کيسه

محمد زبير شفيقي

دريم ځل ؤ چی بيا دهغی سويو کړيکو زموږدخوبونو دنيا ګډه وډه کړه اودمسافری شپی غمجن سکوت يی مات کړ.

لومړی وارهغه وخت چی موږنوی دغه دوکان ته رانغوتلو اودپښو ستړيا اودردونه مولانه وولری شوی ، چی ددوکان په کونج کی دهغی ويشتلی فرياد ټول هك پك کړل ، موږمزلونو ښه ستومانه کړی وو، اوپه دغه ستومانئ کی طبعاً دبلبل سندری رابانـدی ښـی نه لګيدی واربيا دداسی سويو کړيکو اوفريادونو شو ، زما خوله ډيری غوسی نږدی وارپارخطا شوی ؤ خوچی څومی ځان څه اعتراض اوشورماشورته جوړاوه، هلته بيا بلکل چوپه چوپتيا شوه دهغی چيغی غلی شوی ، بيرته کراره کراری شوه بيا هم دهغی وړی وړی سلګی اوريدی شوی چی ترډيره پوری يی دشپی ترتورځادرلاندی دسکوت پرحريم ورو ورو ګوزارونه کول ، خوسکوت زوروړشو اودهغی سلګئ بيا چوپی شوی ،

دوکان له خلکو ډك ؤ نوځکه يو ځل بيا ګڼه ګونه شوه ، څوك ورو ورو ګړيدل اوڅوك به دلړ تودو اوبو اوچای په تمه دبخاری ترڅنګ چوپ ناست وو ترڅومو سترګی درنيدی اودخوب غيږی ته مو پناه وړله، بهرددوبندئ په ګړنګونو کی دجټ الوتکو کړسهار راغبرګ شو ، هری خواته چيغی شوی : چراغونه مړه کړئ ، بالتی «لاسی چراغونه »ونه لګوی اوبيا چاپه ډيره تادی زموږددوکان ګيس هم ګول کړ، تپه تياره جوړه شوه ، اوپه دی تياره کی دالوتکو غرچی بهريی له ګړنګونو ازانګی راغبرګيدی ډير هيبتناك غوندی ؤ ، بيا ورو ورو دغه هيبت ناك غږونه هم دشپی په تياره کی لکه چی چيرته په ګړنګونو کی ويده شوی وی وړك اوچوپ شول چی يو ځل بيا دهغی معصومی کړيکی را پورته شوی.

(۵) مخ کی

دشپې په تیاره ...

داخل ما هغه سمی اوریدی اوښی می سیی کړای شوی ،

: وای ادی ، وای اللـه مړه شوم ، ویی خوږی مورجانی مورجانی ، وای الله مړه یی کړم ... مامکه ، مامکه دخدای (ج) لپاره ...

له دی سره سم دیوه نارینه غږهم ترغوږوکیده چی نجلۍ ته یی په ډیره درد منه لهجه تسلی اوداډ ورکاوه هماجانی ، همالورکۍ دغه دی ګوره دادی زه دی ترخوایم خیرخیرت دی ، ګوره هیڅ نشته ...

اوبیا یی په ډیره دردمنه لهجه په زوره غږوکړ دخدای (ج) په خاطر دغه ګیس خوځوك ولګوئ ، چی ددی نجلۍ به زړه ترپردۍ ووزی په دی زوږاوفریادکی داورلګیت خرشو اوبیا ګیس ولګول شو خوپه دوکان کی دټولو خلکو پام همغه کونج ته ؤ چی ژړااوفریاد تری راپورته کیده ، لږه شیبه وروسته یوځل بیرته چوپه چوپتیا شوه دنجلۍ کریږی غلی شوی خوغلی غلی یی سوی سوی پرلپسی سلګی لااوریدل کیدی چی ربښتیا یی دهرچا په زړه دخنجر ګوزارونه کول ، داخل سره له دی چی ټولو ته به ددی چیغو اوکریږو په باب پوښتنی پیداشوی وی زموږټولو زړونه پرهغی ډیرودردیدل خوستومانی اوسبانی مزله ددی توان راپرینښود چی په مسله پسی سروخوږوو ځکه هریوه یوی خواته ډډه ووهله که لږه سترګه پټه کړی ، شپه ډیره تیره شوی وه اوبیا هره شیبه ددی احتمال ؤ چی الوتکی به راځی بمباری به کوی اوبیا به زموږخوبونه اخلالیږی ...

خوپه دریم ځل چی دهغی چیغی بیا پورته شوی نورزموږله سترګو نه خوب دومره لری تښتیدلی ؤ لکه دشپی له تیارو نه چی دلمر وړانګی تللی وی ، اوس نوهرچا یو ځل دهمغه کونج په لوری ورکتل یونیم به ورجګ شو اولنډ به ورغی ، هغی پرلپسی چیغی وهلی اوبیا داسی چیغی چی ماغزه یی برمه کول :

وای اللـه ، مړه یی کړم ، وای موری ، وای موری اوه خدایه... مړه شوم ... مړه شوم ...

داتو نهوکالو نجلۍ وه چی یو دشناوی بږیری پاخه عمر خاوند په غیږه کی یی ځان ورننه ویست ، په مخ یی له سترګو نه داوښکو غټی غټی څاڅکی رارغړیدل ، داسی ریږدیدله چی تابه ویل له ویری یی زړه ترپردۍ ووزی ، الوتی ژیړه پیړه بڼه یی وه چی دګیس رڼا ته ښکاریده مخ یی په اوښکو داسی لوند ؤ لکه اوبه چی پری تویی وی اووړوکی اندامونه یی اوتومات لړزیدل لکه مرغۍ چی توپان پسی رااخستی وی ، یا دخونړیو بازانو نه راخلاصه شوی وی ، هغی څان دسړی غیږی ته ورجوختا وه ، سترګی به یی کله یوه خوا اوکله بله خواداسی اړولی چی تابه ویل بلاګانی وینی اوځان به یی دهغه سړی غیږی ته نورهم ورنږدی کاوه ، لکه له بلاګانو چی تښتی اویا خونړی لیوان ورته ولاړوی .

هری خواته چوك چوك شول خوچاته ددی درنځ دوانه وه اوڅوك نه پوهیدل چی څه وکړی ، هغه سړی دغه نجلی په غیږ کی ټینګه کړی وه . دلاسایی ورکوله په مینه داروپی ورته ویل .

لورکی می جارشم - سترګی وغړوه - ګوره دادی هیڅ نشته دازه یم دانور ګوره ټول مجاهدین دی کاکا ګان دی ، داوګوره هن ، ټول مجاهدین دی ، هیڅ نشته لورکی ، همالورکی ...

لږ ساعت وروسته هغه نجلی لکه چی په هوش غوندی شی ورو ورو یی چیغی غلی شوی خو په وړوکو اندامونو یی لړزه وه او په معصومه خولګی یی سلګی . موږ چوپ ددوی سیل ته ناست وو نه پوهیدو څه وکړو او په دی هم نه پوهیدو چی نجلی ولی ویریږی او فریادونه کوی ؟

چی بڼه شیبه وروسته زما پام شو دنجلی په تورو ویښتانو رنه څاڅکی پریوتل اوچی پورته می کتل دهغه سړی له سترګو نه په پټه اوچوپه خوله داښکو باران اوریده ، اوس داښه معلومه شوه چی سړی او نجلی دکوم غمجن داستان یادونه او نخښی دی ، زموږ په زړوکی دپوښتنو تلوسی را پیدا شوی خو دا جرئت له چاسره ؤ چی ددی خوارو په زخمونو مالګی ودوړوی ، او یا بیا ددغی معصومی نجلی سویی کړیکی واوری . چی د سړی د زړه دننه دغم دوك دهغه دصبراو حوصلی دیوالونه ونړول او پټه خوله یی په غمونکی ژړا خلاصه کړه :

وای خدایه! ماته دی داغم را دغاړی کړی دی خدایه ته می تری خلاص کړی - مور پلار، ورونه دی تری واخستل خدایه خو دا به دی هم دمرګ په خوب ویده کړی وه...

دشناوی بږیری خاوند ښه وژړل او فریادونه یی وکړل تابه ویل داخل نجلی ته دمه ورکوی اودهغی پرځای چیغی وهی - خوعجیبه وه چی نجلی یوازی سلګی وهلی اودهغه په سینه پوری جوخته وه ، اوس یی لږ اوډیره داندامونو لړزه هم کمه شوی وه -

هغه سړی چی په ژړا ښه دزړه براس کیناوه ، دڅادر په پیڅکه یی اوښکی پاکی کړی بی له دی چی موږ څه پوښتنه تری وکړو پخپله یی موږ ته مخ راواړاوه اوویی ویل دازما خورځه ده ، دوی هفتی وړاندی یی مور، پلار اودوه ورونه یوه شپه روسانو شهیدان کړل ..

هغه یوازی دومره وویلای شول اویوځل بیا په ژړا شو، له سترګو نه یی داوښکو څاڅکی پرېیره راپریوتل اوبیا به ښکته دماشومی نجلی دسر په ویښتانو کی ورکیدل ...زموږ په سترګو کی به هغه خامخا دا سوالونه لوستل چی څنګه؟

او په څه ډول یی شهیدان کړل نوچی یو ځل بیایی ژړا دغم ځوښ لږ کښیناوه خبروته یی دوام ورکړ :

موږ د قره باغ یو ، دوی هفتی وړاندی روسانو دکلی له جاسوسانوسره دشپی زماددغی خورځی دوی په کلی ناڅاپی حمله وکړه یوه ډله روسان ددوی کورته ورننوتلی وو ، مور اوپلار یی په پ..سو اوسامان څه کش اوګیر ورسره کړی ؤ هغه یی له دوو وړوکو بچیانو سره ځای پرځای په ماشیندارو غلبیل غلبیل کړی وو ، له همغی ورځی نه ددغی نجلی همدغه حال دی ، چی ویښه وی ښه وی خو یو سات نشی ویده کیدای چی سترګی یی پټی شی لس دقیقی نه وی وتلی چی بیا پورته شی او کریږی کړی ... هغه به ښایی نور هم څه ویل خو دنجلی کریږو نوره موقع ورنکړه ځکه په هغی بیا دویری پیریان کیناستل له سترګو یی غټی غټی اوښکی په راتوئیدو شوی او ترخولی یی په داسی حال کی چی په ماما پوری یی ځان نښلاوه سوی فریادونه پیل

وای خدایه! مړه یی کړم . وی الله وای الله . لږوروسته دماما اوخورځی دواړو فریادونه غبرګ شول او غبرګ یی په تیاروکی دآسمان لاره نیوله دغه غمجنه ننداره او زړه ریږد ونکی ډرامه دشپی په تیاره غیږه کی تکرار شوه ، تکرار شوه او دومره تکرار شوه چی موږ یی له ژوندە زړه توری کړو ، دجهان له ننداړو یی ماړه کړو ، ددغه له جنایاتو او فاجعو نه ډك جهان دننداړونه...!

رژیم کمونست کابل را قحطي تهدید میکند

رژیم کمونست کابل برای تامین اهالی تحت اشغالی خود درسال جاری با کمبود

۲۷۰ هزار تن گندم مواجه است .

این مطلب را خبرنگار رویتر از کابل بقول معاون وزارت پلان رژیم کابل گزارش کرده است .

موصوف گفته است سر ازیرشدن سیلابهای مدهش که طی ٤٠ سال گذشته بی سابقه بود درولایات جنوب غرب امکانات حاصل ۱۵۰ هزار تن گندم را ازبین برده است علاوتا روسیه نیز ۲۳۰ هزار تن گندم را به رژیم کمك نموده است وکمبود مقدار مذکور با وجود همه کمك های روسیه به رژیم میباشد.

همچنان نماینده ملل متحد درکابل نیز به خبرنگار رادیو بی بی سی گفته است که رژیم باکمبود مواد غذایی دچاربوده اما در رابطه به مقدار وحجم ان معلومات نداده است .

نماینده ملل متحد گفته : ملل متحد قدرت انرا ندارد که از ذخایر خویش به رژیم کابل ۲۷۰ هزار تن گندم مهیا سازد موصوف علاوه نمود که فعلا ملل متحد پروگرام تسلیمدهی هفتاد هزار تن گندم را به افغانستان رویدست دارد که در برابر کار بخاطر استقرار قیم بازار داده خواهد شد .

نماینده ملل متحد افزوده است ، بخاطر کمك به اسیب دیده گان سیلاب کمك های جریان داشته جاپان ، فرانسه ، ایتالیا وبریتانیا کمك نقدی نموده اند .

نماینده گفته است ملل متحد پروگرام اعمار بندو انهار را درساحات تحت حاکمیت مجاهدین ورژیم رویدست دارد .

قابل ذکر است که رژیم تمام امکانات را صرف بخدمت اعضای حزب کمونست ، اردو وخاد و ملیشه ها قرار میدهد ودرنتیجه مواد ما یحتاج اولیه به همه مردم نمیرسد .

کشمیر اودکړیکو انګازې ...

کیږی خورد ضابط « هردیال » یی خواته راځی داکشمیری پیغله دکوڅیو نه رانیسی ووایه ! مجاهدین چیرته دی ؟

حامده هیڅ نه محسوسوی. بابا- وروره جذبه یی مړه شویده په غوږونو کی یی فقط دبابا ،مور ورور اوشهریار چیغی دی چی وهل کیږی دټولو کشمیریانو ژوند په سوو کړیکو بدل شویدی .

دخورد ضابط (هردیال) په مخ باندی شیطانی مسکا خپریږی زه ستا تلاشی اخلم خبرنه یم په کمیس کی دننه دی څه ایښی دی دجامو ویستلو کوښښ یی کوی دمحکومو قامونو وینه ګرمیږی دغیرت وینه په جوش راځی غلام رسول سملستی په ډیره تیزی سره

په هردیال ورغوټه کیږی دده په هغو نازکو پنجو اوګوتو کی چی دساعتونو دپرزو لپاره برابری دی پوره زور راپیداکیږی اوپه پوره میړانه یی دهردیال مری ته وراچوی. قومانداان شاستری دخپل قاش څخه طمانچه راوباسی حامده ښی خواته ولاړه ده سملستی په پوره زور اوقوت سره شاستری دمسو په خوټکیدلی چای جوش په ټټرولی په شاغورځیږی په دروازه کی ولاړ پوځیان دخپلو ټوپکو خولی سموی څه مرمی دحامدی په وجود لګیږی او ځنی غلام رسول دخپل پلار سره په جنت کی یو ځای کوی خو لاسونه یی اوس هم دخورد ضابط ګریوان کی نښتی دی .

هندی داړه ماران دخپلو عملیاتو خوند څکی : اوس نو څه کوی په خوله باندی شهریار یوه سخته څپیړه وهی کوچنی لالهانده کیږی دنیکه دزوریدو لپاره یی نورو وهی وایه بډاته هودا ! چیری دی ستاخپل پاکستانیان ؟

یوبل پوځی خپلی دوه ګوتی درقیی په ضعیفو سترګو کی ننه باسی رقیه یی خوده کیږی اولویږی دخوا وشادکورونونه دډزو اوازونه راپورته کیږی عملیات روان دی رقیه دلرګو دکړساری نه په هوش کی راځی کوټه دلوګو نه ډکه ده،

هندی وحشیانو په تلو تلو کی دپیړیو زړو کورونو ته اور ورته کړی : اوس به یوه ورانکاری » هم ددغو ښایسته کورونو دکړکیو څخه دهند خلاف نعره ونه وهی ددغی ایری نه به اوس دهند بنیادونه جوړیږی !!

ځوزږی زړی ښځی اوزخمی زخمی پیغلی په چوك کی دریدلی دی وجودونه یی په وینو سره دی خوسرونه یی پورته دی یوی پیغلی دخپل کور په توردیوال په تباشیرولیکل (هندی سپو دکشمیر نه ووځئ)

رقیه چیغی وهی شهریاره ، شهریاره ، خواته یی سوی لرګی رالویږی هری خواته لوګی لوګی دی اودکلونو زړی ابادی په ایرو بدلیږی دلمسی سره تکړ خوری په غیږکی یی کلك نیسی دکوټی یو غټ تیررالویږی ړنده اوکمزوری ښځه هم ورسره غورځیږی خوخپل لمسی دغیږی څخه نه خوشی کوی بهر کوڅی ته راوځی .

خپل لمسی په غیږ کی کلك نیسی اوکینی دکورنه لوګی راپورته کیږی دهرکور نه لوګی اودودونه :

په خپور شوی تورتم اوخاموشی کی درقیی اوازاوریدی کیږی په غیږه کی تالی ورکوی خپل هغه لمسی ته چی ډیر پخوا مړشویدی هغه تالی کومی چی دځلوښتو کالوراهیسی کشمیری میندی خپلو بچو ته ورکوی وایی . دپاکستان غازیانو راشئ .

دظلم اوبربریت دتورتمی دورکولو لپاره دی راشی دشنو پټکو خاوندان .

هغوی راځی دهغوی دقدمونو کړپا ته غوږکیږدی ! خامخابه راځی ! هری خواته به رڼا یی شی ! دپاکستان نه دشنو پټکیو غازیان راروان دی .

اوومه برخه: په افغانستان کې دکې ، جي ، بي ورانوونکي فعاليتونه

عبدالوکيل

داکسا ، کام ، خاد ، واد - فعاليتونه تشکيلات اوجنايات

دمحمد داؤد دخپل سري رژيم په وخت کې دکی ، جی ، بی کړه وړه (۱۳۵۲ - ۱۳۵۷ هـ ش)

د ۱۳۵۲ هـ ش کال دسرطان مياشتي په ۲۶ نيتهه دشپې له طرفه دهغو افسرانو له خوا چې محمدداؤد يې په راس کې قرار درلود کودتا وشوه چې په نتيجه کې يې شاهي نظام ړنگ اوپرځای يې جمهوريت اعلان کړ .

دکودتا په جريان کې دکودتاچيانو له ډلي څخه يو مهم اوفعال کودتا چې حبيب الله زرمتی دکابل ښار پل باغ عمومي دپله سره څيرمه دزرهپوش دچپه کيدوله امله خپل ژوند له لاسه ورکړ .

دغه کودتا چې افسر په زرهپوش دپاسه سپور ۇ او ډريور يې دوارخطايی له امله زرهپوش دکابل په درياب کې ورواچاوه اوهغه ترزرهپوش لاندي ووژل شو برسيره پردي دارگ اړونده ډير کم عسکري محافظين له منځه لاړل .

کودتاچيانو وکولای شول دسرطان په۲۶ شپه چې دکودتا دپيل شپه وه دکابل ښارعسکری قطعات اوجزوتامونه ترخپل کنترول اوقوماندي لاندي راولي .

د۱۳۵۲ هـ ش کال دسرطان په ۲۶ دورځې له خوا دافغانستان راديو له خپو څخه دمحمد ظاهر دپاچاهی سقوط اومحمد داؤد يې درئيس جمهور په توگه اعلان کړ اودمحمد ظاهر ټولو قوماندانانو اوجنرالانو :نوموړی اعلان په اوريدو سره بې له ځنډه دتسليمی وداؤد ته دجمهور رئيس په صفت دده دټاکنې له امله دټولو ولاياتو څخه دمبارکی ټلگرامونه وليږل شول.هغو فسرانو چې په کودتا کې يې اساسي رول ولوباوه دزياترو تحصيلات ياداچې په روس کې ترسره شوي ۇ او يادخلق اوپرچم ډلو غړي ۇ په دې وخت کې محمد ظاهر عموماً هغه قوماندانان او جنرالان حساسو چوکيو اومقامونو ته گمارلي اومقرر کړي ۇ چې يا خوبې دځان اودظاهر دپاچاهی څخه ددفاع روحيه اوشهامت نه درلود اويا داچې دمقاومت اوميړانې روحيه پخپله ظاهر دخپلې پاچاهی دبقا په خاطر پکې له منځه وړې وه .

ظاهر له دې څخه ويره درلوده چې که چيرې په حساسو اولوړو مقامونو باندې داسې قوماندانان مقرر کړي چې دشهامت او زړورتوب بځرکي اوسپرغۍ پکي موجودې وي نودده دله منځه تللو سبب يادکودتا عامل به شي

نوځکه دعسکري قواؤ مورال داسې حالت اختيار کړی ۇ چې که هرچا درادیو اوارگ څخه ورته دتسليم اوتيارسی غږکړی وای ددوی لپاره دقبول وړو نومحمدظاهرشاه نوموړی عمل چې هرڅومره دخپل اقتدار دساتلو لپاره ترسره کاوه په همغه اندازه يې دځان اواقتدار دله منځه وړلو مفهوم درلود .

محمد داؤد دکودتا څخه وروسته درئيس جمهور صدراعظم ، دفاع وزير او دبهرنيو چارو وزارت مقامونه اوچارې په مستقيم ډول سره پخپل لاس کې ونيولې اودحکومت په جوړښت کې يې دپرچم اوخلق ډلو ته هم برخه ورکړه (دخلق اوپرچم ډلو ته په دولت کې برخه ورکول دخلق اوپرچم ډلو سره دگوندونو په سويه په مستقيمه مشوره اوتفاهم کې صورت وه نه نيول شو بلکه ددغو ډلو غړي ياداچې دکودتا دمهمولو بغاړو له جملې څخه ۇ اوياداچې «کې ، جي ، بی » يو شمير اجنتان په دې گمارلي ۇ چې بايد داؤد ته ځانونه ډير ورنږدې کړي اويوشمير اشخاص دداؤد له نږدې معتمدينو څخه ۇ اولوړي چوکۍ اومقامونه يې ورته وسپارل په داسې حال کې چې کی ، جی ، بی هغوی پخپله حلقه کې راوستلی ۇ خوداؤد دخلقيانو په نسبت په پرچميانو باندې زياته تکيه وکړه او يو شمير مهم وزارتونه يې ورته تسليم کړل دبيلگې په توگه دکورنيو چارو وزارت يې دفيض محمد په نوم هغسې پرچمی ته وسپاره چې دکی ، جی ، بی سره يې مستقيمې اړيکې درلودې اوکی ، جی ، بی هغه دځوانی دوختنو څخه دداؤد په څنگ کې ترخپلې اغيزې لاندې نيولی اوروابط يې ورسره ټينگ کړی ۇ (دداؤد په لومړی کابينه کې دکورنيو چارو وزير اودسرحداتو وزير دهغو عسکری صاحب منصبانو له جملې څخه ۇ چې داؤد دکوچنی توب له وخته په خپل څنگ کې لوی کړي ۇ اما داؤد په دې نه پوهيده چې دغه دده پخپل لاس روزل شوي بريخي دکی ، جی ، بی په دوزخي حلقه کې راغلي دي)

همدا علت ۇ چې داسلامي تحريك مقاومت يې دکی ، جی ، بی په دستور هسې وځاپه څومره چې يې له وس څخه پوره ۇ اومحمد داؤد ته يې اکثريت راپورونه غلط ورکول (دداؤد يو خصوصيت داؤ چې داکثريت دولتي اوټولنيزو چارو اوقضاياؤ څخه به يې صرف راپور اخستلو اوپه مستقيم ډول يې ورسره تماس نه ساته).

دداؤد په لومړني کابينه کې دکورنيو چارو وزير اودسرحداتو وزير دهغو عسکري صاحب منصبانو له جملي څخه ۇ چې داؤد دکوچنۍ توب له وخته په خپل څنگ کې لوي کړي ۇ اما داؤد په دې نه پوهيده چې دغه دده پخپل لاس روزل شوي بريخي د« کي ، جي ، بي » په دوزخي حلقه کې راغلي دي

دمحمد هاشم ميوند وال (محمد هاشم ميوند وال دمحمد ظاهر دپاچاهی په دوره کې دصدراعظمی دوره هم تيره کړي.ده دمترقی دموکرات په نوم گوند جوړکړاودمساوات په نوم جريده يې هم نشر ته سپارله خودخلکو په منځ کې نوموړي گوند دمساوات په نوم شهرت پيداکړ اودهغه غړو ته به يې مساواتيان ويل) له منځه تلل دهمدغې لارې دکی ، جی ، بی په واسطه صورت ونيوه روسانو دنوموړی په باب داتبليغات کول چې هغه دامريکا متحده ايالاتو سره نږدې اړيکې لري او ورته په غوسه ۇ نوځکه يې دداؤد له کودتا څخه دری مياشتې وروسته دکی ، جی ، بی دهغې توطئې په اساس چې دده دله منځه وړلو پخاطر يې جوړه کړی وه دمحمد داؤد پرضد دکودتا په تور دکابل په ده مزنگ کې بندي اوبيايې دکورنيو چارو وزير له لارې ۇواژه دکورنيو چارو وزير محمد داؤد ته راپور ورکړ چې ميوند وال دخپلې نکتايي په واسطه خپل ځان پخپله وژلی دی .

دزراعت ، تجارت ، کورنيو چارو او يو شميرنورو وزارتونو مهم مقامونه يې په پرچميانو اوپرچميانو ته په متمايلو اشخاصو ډك کړل په همدې وخت کې ۇ چې دمقام پرستو، مرتجع اودون همته روشنفکرانو دخلق خصوصاً پرچم ډلې ته دورتللو اوپه هغوی کې دعضويت حاصلولو بې ساری شدت کسب کړ.کی ، جی ، بی دپرچميانو رهبری ته دستور ورکړ چې دداؤد څخه په ټينگه ملاتړوکړي پرچميانو همداسې وکړل تردې چې يو شمير خلکو به داؤد ته دپرچمي خطاب کاوه.

سره ددې چې خلقيانو اوددوی پلويانو ته هم يو شمير وزارتونه لکه دسرحداتو اوعالي تحصيلاتو وزارتونه ورکړل شول اودجلب اوجذب امکانات يې لانور مساعداوزيات شول

خو« کی ، جی ، بی » ددې شيوي اوتاکتيك څخه زياته گټه اخستله چې دواړه ډلې (خلق اوپرچم) به يې په يوه رول کې نه استعمالولې نوځکه خلقيانو دپرچميانو په نسبت دداؤد څخه غير شديد ملاتړ وکړ اما هغه يې رد نکړ .

دداؤد په واسطه سره درادیو اونورو خپرونو له لارې دافغانستان خلکو ته خطاب دهغې سياسي ، اقتصادي اوټولنيزې تگ لارې ابلاغ ۇ چې دخلق اوپرچم ډلو دپه ظاهره اعلام شوي ستراتيژيك مرام سره يې تفاوت نه درلود اوددواړو ډولو له خوا تائيد شوه . نوربيا

موږ په افغانستان کې څه ...

وکړی ، هغه افغانستان ته ددی لپاره راغلی ۇ چی دلته به دامريکا ،چين ،پاکستان اونورو هيوادونو دپوځيانوپه مقابل کی جنگيږی خوکله چی دلته راغلی وبی ليدل چی دروسی پوځ دمشرانو ټولی خبری چی ده ته يې کړی وی دروغ وی ، عبدالله اوس دقرآنکريم پرزده کړی بوخت دی او غواړی چی خپل پاتی ژوند داسلام په سيوری کی تير کړی .

هغه وائی : چی دی درواغو روسيی ته څه گټه ونه رسوله ، دهمدی کارله وجی روسی پوځيانو پر خپلو لوړرتبه صاحب منصبانواو قوماندانانوباندی اعتمادنه کاوه ، دهغوی مورال اوروحيه ډيره ضعيفه وه ، اودمجاهدينو مورال ډير لوړۇ ، همداوجه ده چی په لکونو افغانان شهيدان شول خوجهاد يې لاشدت وموند خوداوو زرو روسی پوځيانو تر مړينی وروسته روسيی ټول قوم دوارخطايی سره لاس اوگريوان شو اودروسيی حکومت دی ته مجبورشو چی دافغانستان څخه بيرته په شا شی.

دادا سلام اعجاز دی ددی سره سره چی پر منځنی اسيا داوږدی مودی راهيسی دغلامی او زور زياتی څادرغوړيدلی خوهلته داسلامی ملت جذبه نه ده وژل شوی داددی جذبی ژوندی ثبوت دی چی کله ددی سيمو ميندی خپل زامن دافغانستان خواته دتگ په وخت رخصتوی هغوی ته وايی چی زويه پر خپلو مسلمانو ورونو ډزی ونکړی. د«ازبکستان» د«تاشکند» ښار (۱۹) کلن «اليگزيندر يانوشت» کله چی دکورڅخه رخصت رااخيسته مور دانصيحت ورته کړی ۇ اوورته ويلی يی ۇ چی :

«دمجاهدينو سره ونه جنگيږی ،اوچی موقع په لاس درتله دهغوی سره مرسته کوه»

په پوځ کی ترجبری شامليدو وروسته هغه ته دمخابری زده کړه ورکړشوه اوکله چی افغانستان ته راوليږل شو دکابل ترڅنگ يوه کلی کی ورته دمخابری دنده وسپارل شوه ، تريوه کاله پوری هغه خپله دنده سرته ورسوله په دی دوران کی ده هيڅ وخت داسی پيغام نه دی ليږلی چی دهغه دوجی مجاهدينو ته تاوان رسيدلی وی .

د۱۹۸۷ کال داگست په مياشت کی ناڅاپی مجاهدينو ددوی پرمرکز حمله وکړه کله چی مرکز ترمحاصری لاندی راغی قوماندان «اليگزيندر» ته امروکړ چی مخابری له لاری بل مرکز ته خبر ورکړه ترڅومرسته راوليږی ،هغه ته پته لگيدلی وه چی حتماً به دمخابری له لاری داسی پيغام ليږی په دی خاطر يی مخابره له مخکی څخه خرابه کړی وه ، هغه قوماندان دمخابری له خرابيدو څخه خبر کړ، دهمدی نيمگړتيا له وجی «اليگزيندر » بل مرکز ته تبديل کړای شو .

ترتبديلی وروسته کله چی هغه ديوی پوځی ډلی څخه بلی سيمی ته ليږل کيده ده ته دټيښتی موقع په لاس ورغله هغه داسی وه چی يوی سيمی کی دوه موټر ټکر شول دټکر له امله قطار کی گډوډی پيدا شوه ، «اليگزيندر» له دی حالت څخه گټه واخيسته او په ارامه توگه يی يوی خواته منډی پيل کړی ، دوه ورځی هغه دلوگر په دښتوکی په سرگردانی تيری کړی او ترهغی وروسته يی داتحاداسلامی افغانستان له مجاهدينو سره مخامخ شو، مجاهدينو څه وخت هغه دميلمه په ډول وپاله اوترهغی وروسته يی د«ځاځيو» آزادی سيمی ته وليږه ، «اليگزيندر» اوس دمجاهدينو په مرکز کی دآزادی ورځی تيروی هغه پردی خبری خوشحاله هم دی او فخر هم وربا ندی کوی چی دی افغانستان ته تړراتگ وروسته دمورله خبری سرغړونه نه ده کړی اودخپل مذهب په نامه دځان قربانونکو ته يی تاوان نه دی رسولی .

«نوربيا»

دعراق حکومت دجنگ دتاوان اداکولو لپاره دمهلت غوښتنه وکړه

بغداد دثور ۱٤ مه :
نړیوالو خبری منابعو رپوټ ورکړی چی دعراق حکومت دملگرو ملتو له سازمان څخه غوښتنه کړی ترڅو دجنگ دتاوان دادا کولو لپاره کم ترکمه پنځه کاله مهلت ورکړای شی .
دغه غوښتنه دهغه لیك په ترځ کی ترسره شوی چی دعراق حکومت له خوا دملگرو ملتو دسازمان عمومی منشی « پریزدیکویار » په نامه استول شوی .
دعراق حکومت ویلی دی چی ددی هیواد اقتصاد دجنگ په وجه ډیر سخت متاثره شوی ،او دتاوان دورکولو په موده کی دڅه مهلت څخه پرته نشی کولای چی خپل اقتصادی حالت ښه کړی .
دغه خط پداسی وخت کی استول شوی چی نړیوال سازمان په نیویارك کی پدی خبره باندی بحث درلود چی عراق باید دخپلو نفتو دعایداتو څخه څومره برخه دجنگی تاوان په توگه ادا کړی .

دعامې روغتیا دطبي کورس لسمه دوره بشپړه شوه

ددوه کلن طبی کورس دلسمی دوری دفارغانو دفراغت له امله دثور په

۱۲مه نیټه دافغانستان دمجاهدینو دموقت حکومت دعامی روغتیا وزارت دتربیوی مرکز په تالار کی یوه غونډه جوړه شوی وه چی په هغی کی دعامی روغتیا وزارت منسوبینو او نورو خارجی میلمنو گډون کړی ؤ .
غونډه دقرانکریم دڅو ایتونو په لوستلو سره پیل او وروسته دعامی روغتیا رئیس سید امین فاطمی دیوی وینا په ترځ کی وویل « دتربیوی مرکز ددوه کلن کورس دالسمه دوره به په پیښور کی اخرنی دوره وی نور به داکورس او زموږ نور کورسونه دافغانستان په داخل کی دایر شی .»
فاطمی دکورس فارغین خپلو دندلو ته متوجه کړل او ورڅخه یی غوښتنه وکړه چی باید دخپلو وروڼو دتداوی برسیره دهغوی سره ښه رویه اوسلوك وکړی او هغه څه چی یی دلته زده کړی دي باید دخپلو وطنوالو په خدمت کی عملی کړی اوهغوی ته په دوا ورکولو برسیره دمحیط دپاکوالی ښوونه هم وکړی ترڅو دناروغیو مخه ونیول شی .
وروسته دافغانستان دمجاهدینو دموقت حکومت دجمهور رئیس مشاور وزیر مولانا « وثیق » دروغتیا وزارت کارکوونکی اونوی فارغین خپلو وظیفو ته متوجه کړل اود ورسپارل شویو وظیفو په سرته رسولو کی یی دهغوی بری وغوښت غونډه ددعائیی په لوستلو سره دغرمی په شاوخوا کی پای ته ورسیده .

دجهاد په سیاسی ډگر کی تحرك...

اوس چی زموږ اسلامی انقلاب دبری په درشل کی له خطراو گواښونو سره مخامخ دی ، او روانی وضعی او حالاتو زموږ دمجاهد ملت پر فضا دمایوسی اونهیلی لړی خپری کړی ، دمومنو افغانانو سترگی دنظامی ډگر هغو اتلو مجاهدو ځواکونو ته اوړی چی لکه څنگه چی دهغوی دپخوتدابیرو اونوښتونو په نتیجه کی الله تعالی زموږ مجاهد ملت ته ډیری فتحی اوسوبی په نصیب کړی ، په سیاسی ډگر دبن بست اورکود له حالت څخه دجهادی ځواکونو درایستلو ، اودمجاهد ملت دفکری اوسیاسی وحدت اوقیادت لپاره نه ستړی کیدونکی هلی ځلی وکړی ، ترڅو وی چی الله (ج) ددوی دهلو ځلو په برکت زموږ اسلامی انقلاب دبری پړاو ته ورسوی . « ومن الله التوفیق »

دهیواد په بیلا بیلو سیمو کی مجاهدینو دثور دکودتا غندنه وکړه

مجاهدینو دثور کودتا دغندنی له امله په بیلا بیلو ولایتونو کی دحملو په ترځ کی دبلخ ولایت دچمتال په ولسوالئ کی ددښمن یوه قرارگاه نیولی چی په دغه قرار گاه کی د۸۰ تنو ملیشو او عسکرو په نیولو برسیره مجاهدینو ۶۰۰ کلاشینکوفونه ٦ ټانکونه ، ۱۳۵ موټرونه ، ۱۹ زیکویك ماشینداراو نور وسایط هم ولجه کړی دی .
یوبل خبر وایی مجاهدینودهرات ولایت په اداری مرکز هغه وخت دراکټونو ډزی وکړی چی درژیم مامورینو دثور دکودتا لمانځنه کوله په دغه حمله کی درژیم دخاص نظم یو ډگروال اودوه عسکر وژل شوی دي
همداراز مجاهدینو دکابل هرات ، جلال اباد ، غزنی ، کندهار اوگردیز په هوایی ډگرونو ډزی کړی چی په دغو ډزوکی دکابل هوایی ډگر کی درژیم یوه الوتکه زیانمنه شوی ده.

په خوست کی دنیول شوو پوځیانو..

اوشوموپلانونو څخه پرده پورته کوی او داوایی چی که موږ داسی خبر وای لدی مخکی به خپله مجاهدینو ته تسلیم شوی وو.»
هو ! داداسلامی ترحم او اسلامی روزنی ثمره ده چی نن ورځ مجاهدین په نړی کی په ښو صفاتو سره یادیږی .
په دی نږدی ورځو کی دکابل مزدور رژیم په ډیری بی شرمی دغیر مطرحو جوانبو سره خبری اتری پیل کړیدی ترڅو دخوست په جگړه کی دمجاهدینو له خوا نیول شوی اسیران خوشی کړی شی چی په مقابل کی دخوست دجهادی شورا اعلامیی داسی ځواب ورکړیدی :« په خوست کی دنیول شوو نظامی افسرانو په رابطه لیدل کیږی چی دځینو غیر مطرحو اوبی مسئولیته اړخونو له خوا په اصطلاح دیپلوماتیك فعالیتونه په لار اچول شویدی ، ځکه خو په سیمه کی جنگیالی قوتونه اعلانوی چی داسیرانو په هکله باید دخوست له شورا سره چی دجگړی اوفتحی زمام یی په واك کی دی مستقیمی خبری وشی له جنگی اسیرانو سره دټولو بین المللی اصولو اومقرراتو له مخی بلکی له هغی څخه په زیات اخلاقی بنیادچال چلند شوی سره لدی چی دااسیران دمحاکمی وړاوجنگی مجرمان بلل کیږی له محاکمی څخه پرته دمیلمنو په توگه استقبال شول اودوی سرونو اومالونو ته هیڅ ډول تاوان ونه رسید چی زموږ داخبره دسره صلیب نړیوالی مؤسسی له دغو اسیرانو سره دخپلو لیدنو کتنو وروسته تائید اوڅرگنده کړی هم ده ».
له پورتنیو توضیحاتو څخه بریښی چی دکابل دگوډاگی رژیم شپی ورځی مخ په ختمیدو دی اودوی داټولی هلی ځلی نه شی کولی چی دمجاهدینو په دریځ کی بدلون راولی اویا خپل بدنام اوربل شوی گوند دافغانستان په راتلونکی حکومت کی پرخلکو تحمیل کړی .

افغان مجاهدینو ...

مخکی څو عامله وو چی دجهاد دخوا خوږو داندیښنی سبب گرځیدلی وو یودجنرال محمد ضیا الحق شهادت دو- هم په پاکستان دپیپلز گوند قدرت ته رسیدل ، دامریکا دموقف بدلون ، دمجاهدینو داخلی اختلافات' دمرستو قطع کیدل اودخلیج جگړی ؛ دی ټولو داسی اندیښنی رامنځ ته کړی وی چی دجهادخواخوږو به ویل خدایه اوس به څه کیږی ؟
خودخوست فتحی دمایوسی داټولی وریځی اوگردونه لیری کړل اودامیدونو نوی اوتازه غوټی یی وغوړولی .
همدی ځایه دغرب دلچسپی کمه شوه اوروس امریکا دواړه یو موقف ته ورسیدل .
خو دظلم او استعمار خلاف چی هرځای کوم تحریکونه روان دي هغوی ځان دجهاد سره تړلی گڼی دخوست فتحه خپله فتحه گڼی اوپدغو ټولویی ښی اغیزی کړیدی .
موږله محترم صلاح الدین صاحب څخه پوښتنه وکړه چی دافغانستان دجهاد په تیره دخوست دفتحی په رابطه دپاکستان مطبوعاتو خپل رول اومسوولیت ترسره کړی که څنگه ؟
دوی وویل : نه له بده بخته

دافغانستان جهاد په حقیقت کي دپاکستان ، کشمیر اوهندوستان جنگ دي جغرافیایي حدود مصنوعي ځیزونه دي داپاکستاني ولس فرض دي چي تروروستي فتحي باید دافغان مجاهدینو په څنگ کي ودریږي

هو ! دخوست فتحه دکابل دفتحی یقینی زیری دی، دنړیوالو اغیزو په هکله ښایی ووایم چی اسلامی نړی له مجاهدینو سره ده، غرب دروسی پوځونو له وتلو سره دجهاد په رابطه دریځ بدل کړ ، په روس کی هم بدلونونه راغلل اوغرب ته نژدی شول له
پاکستانی مطبوعاتو ددغه جهاد اوفتحی حق ندی ادا کړی اوروبه یی مایوسوونکی ده که څه هم دخوست اهمیت دپاکستان له پاره ډیر زیات دی خوداپه ډاگه وایم چی پاکستانی مطبوعاتو پدی رابطه ډیره زیاته کوتاهی کړیده .
دوی زیاته کړه :
خو زه یوه خبره تاسی ته کوم اوهغه داچی تاسی باید په مطبوعاتی برخه کی پخپلو پښو ودریږی ، داښکاره خبره ده چی نن جگړه له ډگر نه زیات تبلیغاتو اونشراتو ته ضرورت لری ، دخلیج په جگړه کی له توپ اوټانگ نه CNN او تبلیغاتی کمپاین ډیر موثر رول و لوباوه .
افغانان هم باید دی برخی ته زیاته پاملرنه وکړی اویو تیم ولری چی نړیواله میډیا پخپله فعاله اومتحرکه وساتی پخپله ورته مطالب ، مواد او خبرونه برابر کړی .
څومره چی زما مطالعه ده تاسی بیرونی رابطه نلری اوکه وی هم ډیره محدوده ده تاسی باید پراخه بیرونی رابطه ولری اوله مطبوعاتو سره باید نیغ په نیغه دخبرو لار پرانیزی دمذاکرو اومباحثو له پاره نیغ په نیغه له خپرونو سره رابطه ونیسی ، واسطه له منځه وباسی ، ماکشمیری ازادی غوښتونکو ته هم دامشوره ورکړی ، چی څوك وکیل مه جوړوی بلکی پخپله خپله جگړه مخکی بوځی .
ځکه خو تاسی ته هم وایم چی نیغ په نیغه له پریس سره اړیکی ولری دافغانستان قضیه له همدی لاری په نړیواله سطحه ژوندی ساتلی شی .
موږ له محمد صلاح الدین صاحب څخه وغوښتل چی پاکستانیانو او افغانانو له پاره څه پیغام لری ؟
دوی وویل :
کوم قوم چی خپله ماضی هیروی هغه مستقبل نشی لرلی ، موږ استعمار په وړو وړو ټوټو اوبرخو ویشلی یو او نشنلیزم په ډیرو وړو محدودو کی ایسار کړی یو ، زه پاکستانیانو، افغانانو اوهندوستانیانو ته وایم چی ۸۰۰ کاله موږ یو ملت او په یو وطن کی اوسیدلی یو ، احمدشاه ابدالی ، محمود غزنوی په یوه وطن حکومت کړی افغانستان اُو بر صغیر یو وطن وو موږ ټول یو وجود ؤ .
دافغانستان جهاد په حقیقت کی دپاکستان ،کشمیر او هندوستان جنگ دی ، جغرافیایی محدودی مصنوعی ځیزونه دي. دادپاکستانی ولس فرض دی چی تر وروستی فتحی باید دافغان مجاهدینو په څنگ کی ودریږی .
په اروپاکی گډ بازار جوړیدی شی نور روابط اوټولنی رامنځ ته کولی شی خو موږ ځانونه تقسیم شوی گڼو. څومره چی موږ نژدی کیدی شو همدومره توانا او طاقت مند گرځیدلی شو .

دجهاد په سیاسي ډګر کې تحرك لودوضعې بدلون- د ...

کېږي،پرځوست دمجاهدینو ګډ اومنظم عملیات ددغه لړۍ لومړنۍ کړۍ ګڼلی شي چې له افغانستان څخه دروسي قواو تروتلو وروسته په جهادي سنګرونو کې رامنځ ته شوي نسبي رکود یې له یوې مخې مات او په مجاهدینو کې یې نوې روحیه او جلبه راژوندۍ کړه .

دخوست ستره او ویاړلې فتحه له یوې خوا ددښمن دیرځې څواك پر وجود یوه داسې کارنده ګوزار اوجریه وه چې دروسانو دمزدور رژیم دژر راتسکوریدو لارې چارې یې هوارې کړې ، اوله بلې خوا دجهاد په لیکو کې یې داسې تحرك او پیاوړې روحیه رامنځ ته کړه چې اوس په ټول هیوادکې مجاهدینو هغه دځان لپاره دعبرت درس اومثال ګرځولی اودغه ستري فتحې په تعقیب جهادي څواکونو دهیواد په بیلا بیلو برخو کې دډښمن پر لویو پوځي مرکزونو او تأسیساتو دمتحدو اوپو مخیزو حملو لپاره چمتووالی پیل کړی اوځینو سیمو کې په جهادي فعالیتونو کې څو چنده زیاتوالی اوچټکوالی راغلی دی چې په هرات ، قندهار ، فاریاب ، کندوز ، بغلان ، پروان او ... کې دمجاهدینو وروستي بریالي عملیات زموږ ددې خبرې ثرګند ثبوت دی .

ددې ترڅنګ دغه ویاړلې فتحې او ترهغې وروسته دسیمې دامنیت ساتنې تدابیرو په تړیوالیه سطحه دافغانستان دجهاد دښمنانو ته خوله ماتوونکې ګوزار ورکړ اودهغوی داشوم پرچ او ناوړه تبلیغات اوپروپاګنډې یې له یوې مخې بې اغیزې کړې چې ګواکې مجاهدین دروسانو دمزدور رژیم ستر پوځي مرکزونه او حکومتي تأسیسات نشي نیولی اوپخپلو ترتسلط لاندې سیمو کې امنیت نشي تأمینولی او ...!!

دحالاتو غوښتنه خو داوه چې دجهاد په نظامي اړخ کې دتحرك ترڅنګ په سیاسي ډګر کې هم یو داسې بدلون رامنځ ته شوی وای چې زموږ دمجاهد ملت غوښتنو اوپوښتنو ته یې مقنع ځوابونه ویلی وای ، خوله بده شامته په سیاسي ډګر کې وضع دهن بست اورکود په حماسه پخواني پشان دوام لري اودغې وضعې زموږ مجاهد ملت اومؤمن وګړي په یو ځوریدونکي اومأیوسانه حالت واقع کړي دي او زموږ داسلامي انقلاب دبري په لار کې یې خنډونه اوګډوډونه رامنځ ته کړي دي .

دجهاد نظامي ډګر چې دجهادي قوماندانانو اومجاهدینو پوري اړه لري ، دټول هیواد په سطحه دجهادي قوماندانانو دسرتاسري شورا په جوړیدو یې ستونزي ترډیره حده حل شوې ، دوی پخپل منځ کې ژور ارتباط سره لري اودجهاد په نظامي ډګر کې دیوې واحدې ستراتیژۍ په جوړولو موفق شوي ، خو دجهاد سیاسي بعد مستقیماً دجهادي قیادتونو اودتنظیمونو په مشرانو پورې اړه لري .

دمجاهدینو اسلامي مؤقت حکومت چې دڅه دپاسه دوه کاله دمخه دیوې مشورتي شورا له خوا تأسیس اودمجاهدو افغانانو دیوې واحدې سیاسي اداري تمثیل یې کاوه ، دجهادي قیادتونو دخپل منځي ګوندي بازیو او بې اتفاقیو په نتیجه کې یې خپل ټول مؤثریت له لاسه ورکړی او هیڅ ډول حقوقي اوقانوني اداري حیثیت اوصلاحیت ورته پاتې نه شو .

دغو ګډوډیو اوخپل سریو په سیاسي ډګرکې زموږ اسلامي انقلاب له سخت ګواښ او خطر سره مخامخ کړی په نظامي اړخ کې یې دمجاهدینو سترګ فتحې اوسوبې هم ترخپلې اغیزې لاندې راوستي اودجهاد دښمنانو ته یې دډول ډول ناوړو تبلیغاتو زمینه برابره کړې اوهغوی ته یې داجرات ورېښلي چې داسې په پرچو او ناوړه پروپاګنډو چې وګوندي که مجاهدین ستر ښارونه اوپوځي مرکزونه هم ونیسي ، دحکومت او سیاسي تشکل په جوړولو قادر نه دي د افغانستان دجهاد په وړاندې نړیوال ذهنیت ګډوډوي .

(۷)مخ کی

خبرتیا

درنو مجاهدینو ، مهاجرینو اوانصارو ورونو !

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

په ډیر درناوي سره خبر درکوو چې :

تاسي کولي شي دمجاهد غږ راډیو خپروني فعلاً دورځې دوه نیم ساعته په لاندي وخت او څپو واورئ:

لومړۍ سهارنۍ خپرونه :

دافغانستان په وخت دسهار له پنځه نیمو بجو څخه تر شپږ نیمو بجو پوري.

دوهمه ماز دیګرنۍ خپرونه :

دافغانستان په وخت دمازدیګر له شپږ بجو اوپنځه څلوېښت دقیقو څخه دماښام تر اتو بجو اوپنځه لسو دقیقو پوري .

څپې :

په منځنۍ څپه مېډیم (۱۲۰۰) کیلو هیډز اوپه لنډه څپه شارټ (۳.۲) میګاهیډز چي له (۹۰) متره باینډه سره سمون خوري او۸ . ۵ میګاهیډز چي له ٤۹ متره باینډو سره برابره ده .

مکاتباتي پته : پوسټ بکس نمبر(۱۰۳۳)یونیورسټي ټاون پیښور

(دمجاهدغږراډیو دلوي مدیریت له خوا)

دبلخ په چهار بولك کی دفرمان په نوم دملیشو قوماندان د۳۰ تنو پلویانوسره مجاهدینو ژوندی نیولی دی

بلخ، میدیا :

دمجاهدینو یو خبر ځای دبلخ ولایت څخه دیو رسیدلی رپوټ له مخې خبر ورکوی چی مجاهدینو دثور دمیاشتی په ۱۳مه شپه دبلخ ولایت دچهار بولك په ولسوالی باندی دیو تعرضی برید په ترڅ کې دفرمان په نوم درژیم دملیشه یو قوماندان دخپلو ۳۰ تنه وسله والو ملیشو سره ژوندی نیولی دی .

رپوټ وایی په دغه برید کی درژیم یو شمیر عسکر او ملیشه مړه اوټپیان شوی دی .

دغه رازپه رپوټ کی ویل شوی چی مجاهدینو یوبل برید کی دبلخ ولایت دلنګر خانی په پوستو باندی چی دثور په ۸ مه نیټه ترسره شوه درژیم ۸ تنه وسله وال ملیشه ژوندی نیولی دی .

درپوټ مطابق مجاهدینو په دغو بریدونو کی ۱۲۰ میله درنده اوسپکه وسله دری عرادی موټر دیو شمیر زیاتو مهماتو سره ولجه کړی دی .

دهیښت تحریر ترنظر لاندي
مکاتباتي پته
پوست بکس (۱۰۳۳)
یونیورستي ټاون پیښور
تیلفون : ... (٤۱۷٤٦)

کشمیری مجاهدینو دوسلی جوړولو له یوی کارخانی څخه وسله وتښتوله

سری نګر، دثور ۱۳ مه :

دنیول شوی کشمیر دجمو ایالت دوسلی جوړولو له یوی کارخانی څخه کشمیرۍ آزادی غوښتونکومجاهدینو(۱۳) میله مختلف ډوله وسله او یو زیاته اندازه مهمات وتښتول .

رپوټونه وایی چی دوسلی جوړولو دغه فابریکه په داسی یوه کلی کی واقع وه چی په هغی کی دهندی پوځونو نظامی قرارګاه واقع ده.

هندی پوځیان ددی پیښی څخه ډیر وارخطابنکاری .

څکه دوی لدی ویره لری چی پدی ښار کی هم لکه دکشمیر په نورو ښارونو کی دیرغلګرو پر ضد عمومی پاڅون پیل نشی .

ویل شوی چی پولیسو دقلفونو دخلاصولو آلاتو ، دګوتو دنشانونو ، او تربیه شویو سپو په مرسته تحقیقات پیل کړی چی تراوسه کومی نتیجی ته ندی رسیدلی .

په کابل کې درژیم دمخابراتو په وزارت کې یو بم وچاودید

دقوماندانانو دشورا نظامی دفتر جهادهنداری خبریال ته دپغمان ولسوالی څخه دیوه پیغام له مخی رپوټ ورکړی چی دکابل دښار مجاهدینو دثور په ٤ نیټه په کابل ښار کی درژیم دمخابراتو دوزارت دودانۍ په دهلیز کی یو بم ځای پر ځای کړ چی ددغی ورځی دمازدیګر په پنځه نیمو بجو وچاودید چی په نتیجه کی دوزارت دودانۍ زیاتی برخی ړنګی شوی دی .

رپوټ وایی په دغه چاودنه کی دمخابراتو دوزیر دفتر ښیخی له منځه تللی او نور زیات مالی او ځانی تاوانونه اوښتلی دی .

رپوټ زیاتوی دبم دچاودنی وروسته د(ګارد خاص) عسکرو لخوا دنوموړی وزارت ودانۍ کلابند شوه چی دڅو ساعتو لپاره دعامو خلکو تګ راتګ بند ؤ.

ددی پیښی څخه دځانی زیان په هکله تراوسه کوم رپوټ نه دی ترلاسه شوی .

مجاهدین ولایت هرات تاسیسات مهم نظامی رژیم راهدف حملات خویش قرار دادند

کویته، میدیا :

نمایندگی مجاهدین حوزه جنوب غرب کشور به میدیا خبر داد که مجاهدین طی یك عملیات مشترك بروز هفتم ثور مرکز فرماندهی قول اردوی مرکز ولایت هرات قوای چهار زرهدار ، مرکز فرماندهی فرقه هفده هرات و پروژه سمنت راکه به حیث مراکز تجمع سازمان کارگری (خلق) درهرات مشهور است با سلاح های ثقیل ودوربرد بصورت بلا وقفه هدف قرارداده ، خسارات مالی وجانی زیادی برتجلیل کنندگان کودتای هفتم ثور به بار اوردند .

خبر می افزاید که مجاهدین درهمین روز مرکز اداری ولایت هرات را زمانی هدف راکتهای دوربرد قرار دادند ، که عده ازمامورین عالیرتبه نظامی وملکی روزهفتم ثور رابه طرفداری رژیم تجلیل می کردند.طی این حمله یکتن از دگر والان قطعه نظم خاص مربوط فرقه ۱۷ هرات به هلاکت رسیده است ، برعلاوه طی این عملیات یك دستگاه بی ام ۱۳ کاملاً تخریب ویکتن از قوماندانان دستگاه با دوتن ازعساکرش نیز به هلاکت رسیدند .

بقول منبع این خبر مجاهدین طی عملیات تقبیحی شان از ۷ ثور درولایت هرات یك قرار گاه نظامی واقع درشمال ولسوالی اوبی راهدف موشکهای میان برد قرار داده متعاقباً با انجام عملیات هجومی شان بر قرار گاه مذکور ۱۱ تن از عساکر وافسران نظامی رژیم را دستگیر و ٥ تن دیگر شان را حین تیراندازی های شدید و متقابل به هلاکت رسانیدند بقیه عساکر وملیشه های مستقردرین قرار گاه به سمت قرار گاه مرکزی شان درولسوالی اوبی فرار و منطقه از لوث کمونستان رژیم پاك گردید .

مولوی صاحب خالص په موقت حکومت کی له خپلی دندی څخه استعفی ورکړه

میډیا ، دثور ۱٥ مه :

دافغانستان داسلامی حزب مشر مولوی محمد یونس خالص له خپلی دندی څخه دمؤقت حکومت دکورنیو چارو دوزیر په توګه استعفی ورکړه .

نوموړی دغه خبره په هغه مطبوعاتی کنفرانس کی چی دیکشنبی په ورځ دثور د۱٥ می نیټی په سهار کی دنوموړی تنظیم په سیاسی دفتر کی جوړشوی ؤ ، دیو شمیر کورنیو او بهرنیو خبریالانو په وړاندی اعلان کړه.

مولوی خالص وویل :

دمؤقت حکومت څخه استعفی دده شخصی تصمیم دی اودحکومت څخه دده دتنظیم دخارجیدو معنی نلری .

داسلامی حزب مشر دخپلی استعفی عوامل دحکومت په چارو او فعالیتونو کی دنه پر مختګ او په حکومت کی دشاملو تنظیمونو دلازم ملاتړ نه کول وبلل .

همدارنګه مولوی خالص په حکومت کی دتنظیمی مشرانو په خپل سر او شخصی کارونو ته ګوته ونیوله اوله هغوی څخه یی انتقاد وکړ .

مولوی صاحب دخپلو خبرو په ترڅ کی پدی خبره ټینګار وکړ چی دده د استعفی تصمیم دحکومت سره دمخالفت معنی نلری بلکه دی دحکومت دتقویی غوښتونکی دی .

ده همدارنګه وویل چی تصمیم نلری ترڅو بیرته خپل تنظیمی فعالیتونه پیل کړی .

مولوی صاحب وویل چی ده دخپلی استعفی له تصمیم څخه ددوو بیلو یاداشتونو په ترڅ کی دموقت حکومت مشر حضرت صبغت الله مجددی اودحکومت صدر اعظم استاد سیاف ته خبر ورکړی .

دمیډیا دخبر رسولو اداره وایی چی دمولوی خالص داستعفی دمنني په هکله تراوسه کوم خبر ندی وررسیدلی .